# وويښووونکي خبرې

Ketabton.com

ژباړه: حسيب الرحمن نورمل

ketabton.com - The Digital Library

# د کتاب ځانګړنې

---

د کتاب نوم: ويښوونکې خبرې

ژباړه : حسيب الرحمن نورمل

اړيکې: Hasib.fm@gmail.com \ 0787811210

خپرندوی: څرک قرطاسيه پلورنځی

پښتۍ ډيزاين: صادق الله صادق

چاپ کال: ۱۳۹۳

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

پته: څرک قرطاسيه پلورنځي- کال، د کمپنۍ بازار

**اړيکې**: srakbookstore@gmail.com - 0788824800

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library

**ډالۍ!**

خپلې خوږې مور او ګران پلار ته، چې تر بل هر چا يې ډېره مينه راکړې.

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

د هر کار لومړنۍ تجربه ښايي له تېروتنو خالي نه وي، خو همدا تېروتنې دي چې وروسته د بریالیتوبونو په توګه رادبره کېږي.

د یوه مشهور امریکايي لیکوال لومړی کتاب خپرندوی بنسټ له دې کبله چې فکر یې کاوه لوستونکي به و نه لري، چاپ نه کړ. لیکوال چې پر خپل نفس یې باور او له لیکوالۍ سره اورنۍ مینه درلوده هوډ له لاسه ور نه کړ او خپل کار ته یې دوام ورکړ. هماغه لیکوال چې خپرندوی بنسټ یې د کتاب له چاپ څخه انکار کړی و یوه په نړیواله کچه درېیم هغه لیکوال شو چې ډېر کتابونه یې پلورل کېدل.

( وېښوونکې خبرې) د ژباړې په برخه کې زما لومړنۍ تجربه ده او ښايي تېروتنې ولري.

د لویانو خبرې تر بېلابېلو عنوانونو لاندې تر دې وړاندې هم پښتو ته ژباړل شوې او ما هڅه کړې ډېری دغه ډول کتابونه ترلاسه کړم او هغه څه را وژباړم چې له یوه لوري تر ډېره وېښوونکې بڼه ولري او له بل لوري په پخوانیو کتابونو کې نه وي راغلې.

د ژباړې پر مهال مې تر ورستي بریده هڅه دا وه چې روانه او ساده وي، تر څو د هر پوړ لوستونکي ترې ګټه پورته کړلی شي.

د کتاب په ژباړه او سمونه کې خالد تکل او یو شمېر نورو ملګرو لاسنیوی کړی چې ترې مننډوی یم.

په کتاب کې مې د نړۍ د مشهورو څېرو هغه خبرې راټولې کړې چې ما یو څه ترې زده کړي، په دې هیله چې تاسې ته هم ویښوونکې وي.

په درنښت

حسیب نورمل

ketabton.com - The Digital Library

خدای«ج» د قیامت په ورځ د درېیو کسانو ساتنه نه کوي:

لومړی: د مور او پلار له خوا د عاق شوي اولاد.

دویم: هغه ښځې چې د نارینوو عادتونه کوي.

درېیم: بېغیرته خلک.
حضرت محمد «ص»

تر ټولو ستر ګنهګاران عبارت دي له: مشرک، عاق شوي اولاد او دوروغجن مجاهد دي.

حضرت محمد «ص»

حقیقي مسلمان هغه څوک دی، چې نور مسلمانان یې د ژبې او لاس له شره په امن وي.
حضرت محمد«ص»

تاسې به تر هغه جنت ته داخل نشي، څو چې د کامل ایمان خاوندان نه شی.
حضرت محمد«ص»

کامل مومن هغه څوک دی چې د ښه خوی خاوند وي.
حضرت محمد«ص»

لومړی، له مور سره، دویم، له مور سره، درېیم، له مور سره، څلورم له پلار سره او پنځم له نږدې دوستانو سره سم چلند غوره کړئ.
حضرت محمد «ص»

ketabton.com - The Digital Library

له مور او پلار سره نيکي کول عمر زياتوي، دروغ روزي کموي او دعا افتونه او ضررونه دفع کوي.
حضرت محمد «ص»

هغه کسان چې د مور او پلار تابعدار وي، هغه په جنت کې لوړ مقام لري.

حضرت محمد «ص»

که څوک مور او پلار راضي کړي، په حقيقت کې يې خدای«ج» راضي کړی او که څوک مور او پلار خفه کړی، نو خدای «ج» به ترې ناراضه وي.
حضرت محمد «ص»

هغه اولاد چې مور او پلار ته په شفقت او مهربانۍ ګوري، خدای «ج» ورته له هرې کتنې څخه د حج په اندازه ثواب ورکوي.
حضرت محمد «ص»

که څوک د رجب د مياشتې په لومړيو، منځ او وروستيو ورځو کې غسل وکړي، ګناهونه به يې توی شي، لکه ماشوم چې نوی له موره زېږېدلی وي.
حضرت محمد «ص»

خدای «ج» د درېيو کسانو دعا نه ردوي: هغه کسان چې خدای يې تل په ياد وي، مظلوم او عادل کس.

حضرت محمد «ص»

ketabton.com - The Digital Library

يو ساعت عدالت، له يو کال عبادت ښخه غوره دی.
حضرت محمد «ص»

الله «ج» موږ ته د هېرېدو صفت د دې لپاره راکړی، چې غمونه هېر کړو، نه الله«ج» .
( ... )

د خدای«ج» مرسته زموږ له تصوره لوړه ده.
(وين ډاير)

د خپل مور او پلار قدر وکړئ، ځو اولادونه مو ستاسو قدر وکړي.
( ... )

رښتيا نيم جنګ دی، تر دې که ړانده ته ووايې چې ړونده! نو په سر دې درخېژي.
( ... )

هيله داسې سراب دی چې که له منځه ولاړ، ټول به له تندې مړه شي.
(ژان دلابرويه)

دعا کول الله ته پر نږدې کېدو سربېره، په انسان کې معنوي احساس پيدا کوي.
( ... )

د بري لومړی قانون تمرکز دی.
(ويليام ماتيوس)

مينه چې په اوښکو ولمبول شي، تل به پاکه او ښکلې وي.
(شکسپير)

ketabton.com - The Digital Library

په مینه کې تېنګار زمونږ ځواک نه؛ بلکې کمزوري ښيئ.
(لاروشفو کلا)

د میني کتاب مې په ځیر ولوست، د خوښۍ مخونه په کې لږ وو، نورې ټولې پاڼې يې په غم لړلې وې.
(ګوېټه)

ژوند ډېر خلک خوښ او راضي ساتلی شي، خو که څوک وغواړي.
( ... )

انسان هغه څه په لاس راوړي، چې په اړه يې فکر کوي.
(فلورانس نایتینګل)

د ناروغ د درملنې اوږدېدل دوه عوامل لري: یا به د داکټر ناپوهي وي یا به د ناروغ سرغړونه.
(زکریا رازي)

په خپلو تېروتنو مه شرمېږئ او هغه جرم مه ګڼئ.
(کنفسیوس)

ښځه د خلقت شهکار دی.
(برنارد شاو)

انسان ازاد پیدا شوی؛ خو په هر ځای کې په هغو ځنځیرونو کې بند دی چې ده په خپل جوړ کړي.
(ژان ژاك روسو)

ketabton.com - The Digital Library

بریالي هغه کسان دي چې په خپلو غوښتنو پسې ځي او که یې پیدا نه کړي، د هغو پر مټ یې رامنځته کوي.
(جرج برنارد شاو)

شتمن چې بې وزله شي، ښوونکی ترې جوړ شي.
( ... )

کله چې بې عدالتي تکراریږي، په ټولنه کې ورو ورو د عدالت په بڼه منل کیږي.
(برتولت برشت)

له درد او رنځ څخه ځینې وختونه داسې شیان زده کولی شو چې له خوښۍ یې هیڅکله نه شو زده کولی.
(انتوني رابینز)

بېړۍ په ساحل کې خورا خوندي وي، خو د دې لپاره جوړه شوې نه ده.
(پاولو کویلیو)

د دې پر ځای چې پر تیاره لعنت و وایې، یوه شمعه بله کړه.
(کنفسیوس)

ماتې باید ویده انرژي را ویښه کړي.
(رومن رولان)

څوک چې زما لپاره غلا کوي، ښایي له ما هم غلا وکړي.
(پاولو کوئلیو)

هیله نیمه نېکمرغي ده.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

مینه د ټولو فصلونو مېوه ده، چې ښاخ ته یې د هر چا لاس رسېږي.
(مادر ترزا)

مینه داسې شی ده، چې له هېڅ شي سره ورته والی نه لري.
(ریشله)

کینه لرونکي په نورو ژوند تریخوي.
( ... )

یواځې په غوښتنه نه شو کولای چې ښه ژوند ولرو، بلکې غوره ژوند کول هڅې او کوښښ ته اړتیا لري.
(جیم ران)

ددې پرځای چې علم وسپموئ، ګټه ترې واخلئ.
(بنجامین فرانکلین)

بری د نېکمرغۍ کلی نه ده، بلکې نېکمرغي د بري کلی ده.
(هرمن کین)

که ټینګه اراده او مقاومت ولرئ، نو حتما بریالي کېږئ.
( رالف والدو امرسون)

بریالي خلک هېڅکله میدان خالي نه پرېږدي او هغه چې میدان خالي پرېږدي، هېڅکله نه بریالی کېږي.
( ... )

دقت او نظم د بریالیتوب نتیجه ده.
(کانت)

ketabton.com - The Digital Library

هغه څوک چې د کمال په لټه کې وي، هغه باید هوښیار او پوه وي.
( ... )

د زړه احساس له منطق نه لوړ دی.
(ژان ژاک روسو)

زه کتاب لیکم، تر څو له خلکو سره مرسته وکړم چې په خپلو کارونو کې بریالي شي.
(جان ماکسول)

که څوک طبیعي استعداد لري، د بریالیتوب لپاره باید تمرین هم وکړي.
(جان ماکسول)

د بریالیتوب لپاره ترټولو اسانه لاره شته: هېڅکله د کار کولو فرصت له لاسه مه ورکوئ، که وخت کم وي، وخت اختراع کړئ.
(توماس ادیسون)

د بریالیتوب لپاره ترټولو اسانه لاره شته: هېڅکله د کار کولو فرصت له لاسه مه ورکوئ، که وخت کم وي، وخت اختراع کړئ.
(توماس ادیسون)

ځان غوښتونکي د یوازېتوب سخته تجربه په مخ کې لري.
( ... )

مینه له مینې پیدا کیږي.
(مارکوس بیکل)

دا مینه ده چې د خلکو په منځ کې سوله رامنځته کوي.
(افلاطون)

ketabton.com - The Digital Library

مینه یوه پېښه ده.
(کولارن)

بدلون دا نه دی چې یو څه زده کړئ، بدلون دا دی چې یو څه له لاسه ورکړئ.
(جوستین گاردر)

د اوږده عمر لپاره ښځه اړینه ده، ځکه د خاوند نیم غمونه او غوسه ښځه زغمي.
( ... )

پوهه، تجربه او هڅه د بریالیتوب مهم عناصر دي.
(هنري لانگ فلو)

زما د بریالیتوب سبب له خپلوانو او ملګرو نه پوښتنه او غوښتنه وه.
( جان پریسکورن)

د ماتې او بریالیتوب ترمنځ یو قدم لاره ده، خو خلک له وېرې ماته خوري.
( ناپلیون بناپارت)

ماتې، بریالیتوب ته د رسیدو لاره ده، کله چې ماتې وخورې، نو د بریالیتوب لار مومې.
( ... )

هر بریالیتوب، بریالیتوب نه دی او هره ماتې، ماتې نه ده.
( ناپلیون بناپارت)

ketabton.com - The Digital Library

د ښځې ازمويل په غربت او د دوست په ستونزمن وخت کې کېږي.
( ... )

داسې ور مه پرانيزئ چې بېرته يې نه شئ بندولی.
( ... )

که هيله ونه لرئ، نو په ژوند کې مو بدلون نه راځي.
(کارل سند)

که مينه ښکاره نه کړې، ښايي خپله مينه ونه مومې.
(وېليم شکسپير)

موږ تل هغه شي ته هيله من يو چې په وس مو  پوره وي، خو خبره په سسته اراده کې ده چې نه مو پرېږدي خپلو هيلو ته ورسېږو.
(ژان ژاک روسو)

لنډ مهاله خنډونه او ستونزې نا اميدي پيدا کوي.
( ... )

لومړی درس چې مور او پلار يې بايد خپلو اولادونو ته ور وښيي، هغه ربښتينولي ده.
(شوپنهاور)

واقعي ملګری هغه دی چې لاس دې ونيسي او زړه دې لمس کړي.
(مارکز)

يواځې پوهېدل کافي نه دي، بايد کڼه ترې واخلو ، يواځې غوښتنه کافي نه ده، بايد سرته يې ورسوو.
(بروس لي)

ketabton.com - The Digital Library

ډار او امید تل له یو بل سره وي.
(لاروشفوکو)

له کومې هیلې پرته، مینه کول نېکمرغي ده.
(بالزاک)

که هر څومره پوهه او ځیرکتیا لرئ، پر هغه پوخ باور ولرئ.
( ... )

برى د ځیرکو او مثبت فکر کوونکو خلکو په برخه وي.
( ... )

د بشر هیلې پاى نه لري، کله چې یې یوه هیله پوره شي ورسته یې نورې هیلې پیدا شي.
(ایمانویل کانت)

مینه هغه قدرت دى چې دښمن په دوست بدلوي.
(جونیور)

زه دنیا ته راغلم چې په مینه او د مینې په کولو پوه شم.
( ... )

د قوت او قدرت سرچینه مینه ده
(باربارا دي انجلس)
که پوهېږئ چې ماتې خورئ یا بریالي کیږئ، په دواړو حالاتو کې مثبت فکر وکړئ.
(انتوني رابینز)

تول لوى ارمانونه له مخالفت سره مخ کیږي.
(فلورانس اسکاول شین)

ketabton.com - The Digital Library

ژبې ته اجازه مه ورکوئ، تر څو مو چې فکر نه وي کړی.
(شيلون)

يوائې وخت دی، چې د مينې د عظمت درک کولای شي.
( ... )

که څوک فکر وکړي چې د برياليتوب لپاره څه ته اړتيا ده، نو حتما بريالي کيږي.
(فرناندو پسوا)

همدا تضادونه دي چې موږ برياليتوب ته رسوي.
(ګويته)

که په ناحقه پر يو کار لاس پورې کړئ، ښايي بريالي نه شئ.
(توماس کارلايل)

هغه کسان ډېر بريالي شوي، چې تعريفونه يې لږ اورېدلي دي.
(ايميل زول)

چې تېروتنه ونه کړئ، پرمختګ نه شئ کولای.
(تډي روزولت)

ځواني تېروتنه ده، پوخ عمر مبارزه او بوډاتوب پښېماني ده.
(ډيزراييلي)

د نه برياليتوب مانا دا نه ده چې لوی خدای«ج» تاسو هېر کړي یاست، بلکې د دې مانا دا ده چې لوی څښتن تعالی پر تاسو غوره نظر لري.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

جامې زړې واغوندئ، خو کتاب نوی واخلئ.
(سټېین فلیپس)

د یوه لیکوال لویه هیله دا ده چې خلک یې کتابونه ولولي.
(جان شتاین بک)

لویو خلکو تل خپل ارمانونه په ګوته کړي.
(نیچه)

کامیابي یواځې په دې کې ده چې وکولای شئ ژوند په خپله بڼه پر مخ بوځئ.
(کریستوفرمورلي)

سپما د عاید سرچینه ده.
(الکساندردوما)

چا چې د ښوونځي ور خلاص کړ، په حقیقت کې یې د زندان دروازه وتړله.

(ویکتور هوګو)

مننه کول ترټولو ښه خوی او د نېکیو پلار دی، دا خوی مه هېروئ.
(پرمودا باترا)

انسان ته د خدای«ج» لومړی ډالۍ ژوند، دویمه د مور مینه، درېیمه پوهه او څلورمه پېژندنه ده.
(مارک پیرسي)

تر ټولو صالحه اولاد هغه دی، چې د دوی کړنې د مور او پلار د ویاړ سبب شي.
(ویکتور هوګو)

ketabton.com - The Digital Library

مال او دولت نه لرم، یواځې روح مې پانګه ده.
(هېلن کلر)

که غواړئ هوسا اوسئ، نور هوسا کړئ.
(ویلیام مکبث)

زه له ستونزو سره په جګړه یم تر څو هوسا شم، کله چې هوسا شوم، نو زغمل يې راته ستونزې شوې.
(هانري بروکس ادمز)

څه مې چې په خوند او خوشالۍ زده کړي، هېڅ وخت به مې هېر نه شي.
(سیسرون)

دا مینه ده چې انسان کمال ته رسوي.
(میکل آنج)

عمل د مینې قدرت بیانوي.
(ګوېته)

هنر لکه ژوند یواځې ازادي او پرمختګ دی.
( لوډ وېک وان بتهوون)

انسان له موره ازاد زیږېدلی.
(ژان ژاک روسو)

د جنګ پیل او پای دواړه د وینو په تویولو سره کېږي.
(هومر)

زما لومړۍ دنده دا ده چې په راتلونکې کې یوه ښه مور و اوسم.
(في داناوي)

ketabton.com - The Digital Library

مور او پلار په نړۍ کې تر ټولو ارزښت لرونکي دي.
(پرمودا باترا)

د مور او پلار لوی هیلې د اولادونو زده کړې وي.
(پرمودا باترا)

د نن بریالي خلک د پرون ماشومان وو.
(ډیزرایلي)

هیله د غریبانو ورځني خواړه دي.
(هرشل)

د نورو تېروتنې د خپلو تېروتنو په څېر وزغمئ.
(فنلېن)

زموږ ماغزه زر وولټه ډاینمو ده، خو موږ ترې د کوچني څراغ له بلولو پرته، نوره ګټه نه اخلو.
(ویلیام جېمز)

د دې پر ځای چې فکر مو تاسو سنبال کړي، تاسو مو فکر سنبال کړئ.
( ... )

تاک له ښې خاورې او نجلۍ له ښې موره انتخاب کړئ.
( ... )

مور او پلار نه شي کولای چې له خپلو اولادونو څه جوړ کړي، دا خپله اولادونه دي چې له ځانه یو څه جوړوي.
(ابراهام مازلو)

ketabton.com - The Digital Library

دا هڅه باید ونه کړو، چې تر نورو ښه یا بد اوسو، باید هڅه وکړو چې د ځان په پرتله ښه اوسو.
(مارکوس)

انسان به هېڅکله نیکمرغه نه شي، چې د نورو د نېکمرغۍ لپاره کار ونه کړي.
(دوسن پیر)

په ژوند کې مو د مثبت بدلون لپاره په خپله کوښښ وکړئ.
(موریس مترلېنگ)

د دندې پېژندل ستونزمن نه دي، بلکې سرته رسول یې ستونزمن دي.
(لارډ آیبوري)

د ښوونکي نفس او د زده کونکي وجدان باید پاک وي.
(پور سینا)

د نورو له فکره د خپل بریالیتوب لپاره کار واخلئ.
(پونډر)

د ځان غوښتونکو کسانو د نېکمرغۍ عمر لنډ وي.
( ... )

یو هېواد هغه وخت ازاد او خپلواک بلل کیږي، چې خلک یې ازاد او خپلواک وي.
(منتسکیو)

که راحت او ازاد وجدان ونه لرو، هېڅکله به هوسا نه شو.
(لارډ آویبوري)

ketabton.com - The Digital Library

مینه هر څه ته ماتې ورکوي، خو خپله ماتې نه خوري.
(تولستوی)

هغه کسان څوک چې په خوږو الفاظو خبرې کوي، هغوی هېڅکله یوازې نه وي.
(فلېپ سیډلي)

هغه خلک ځومره ښکلي دي، چې موسکا یې پر شونډو خپره وي.
( ... )

له ما سره مینه لږه وکړه! خو تل یې وکړه.
(کریستوف مارلو)

مور د حق رڼا او د خدای «ج» رضا ده، خدای باید ناراضه نه کړو.
(اناتول فرانس)

د دښمنانو د کمولو لپاره غوره لاره د دوستانو ډېرول دي.
(انورا دوبالزاک)

مرګ څه شی دی؟ ښايي چې دا د انسان لپاره یو ډېر ستر نعمت وي، خو خلک له مرګ څخه داسې وېرېږي، لکه مرګ چې یو ناورین وي.
(سقراط)

هېڅکله دې یو شي ته ددلیل په مقابل کې ارزښت ورنه کړل شي، مګر کوم شی چې په دلیلونو سره په ډاګه شي، هغه باید ومنل شي.
(سقراط)

هغه دولت هېڅکله پرځای نه پاتې کېږي، چې چاته پکې سزا واورول شي او پرې پلې نه شي.
(سقراط)

ketabton.com - The Digital Library

چې وغواړم د مينې په هکله منطقي فکر وکړم، نو مينه خپل حقيقت له لاسه ورکوي.
(سپي زان)

د خلکو د زړونو خوشالول نه خرڅ لري او نه زحمت، يواځې يوه موسکا بسنه کوي.
(تاګور)

يواځې ښځه هغه موجود دی، چې د مينې حقيقت پېژني.
(فريدريشن شيلر)

که ازاد ژوند نه شو کولی، غوره ده چې مرګ ته غاړه کېږدو.

پيسې ښکلې دي، ځکه مانا يې ازادي ده.
(فرناندو پسوا)

که د يوې تېروتنې لپاره زر دليلونه راوړئ، په واقعيت کې درنه يو زرو يو تېروتنې شوې.
(ابن سينا)

مهمه نه ده، چې څومره ښبنه کوو. مهمه دا ده، چې په ښبنه کې مو څومره مينه ده.
(جان دلابرويا)

که ايمان او عقيدې سره ژوند وکړئ، هېڅکله به مات نه شئ.
( ... )

هر انسان د ژوند لپاره دليل او هدف ته اړتيا لري.
(آنتوني رابينز)

ketabton.com - The Digital Library

له ياده مه باسئ چې د کوچنيو کارونو په سرته رسولو، لويو موخو ته لاره پيدا کوئ.
(سټيو چندلر)

په ژوند کې مهمه دا ده، چې انسان هدف ولري او هدف ته د رسېدو لپاره له خپل استعداده ګټه واخلي.
(ګوېته)

که لومړی وار بريالی نه شوې، بيا بيا هڅه وکړه، خو هدف مه پرېږده.

(ويليام هېکسون)

لوی خدای «ج» له هغو کسانو سره مرسته کوي، چې عقيده او ايمان لري.
( ... )

ازادي دې ته نه وايي چې څه دې زړه غواړي هغه کوه، بلکې ازادي هغه ده چې د څه حق درکړل شوی وي هغه ترسره کړې.
(وېکټور کوزن)

کله مو چې ژوند پای ته ورسېږي، تازه به مو زده کړي وي، چې څنګه وکړای شئ دويم ځلي بنه ژوند پيل کړئ.
(مارکس)

زما لوړوالی هغه دی، چې په لسو جملو کې داسې څه ووايم، چې بل يې په يو کتاب کې وايي.
(نيچه)

د خپلې ازادۍ لپاره بايد د خپلو کارونو مسووليت ومنو.
(ليوبوسکاليا)

ketabton.com - The Digital Library

یو ملت د آزادئ له لارې ښوونې او روزنې ته لاره مومي، نه برعکس.
(جورج برنارد شاو)

د اخلاقو خاوندان د ټولنې روح دی.
(زالف والدو امرسون)

لوی فکر او دعا وکړئ، لویه عقیده او ایمان ولرئ، لوی عمل او لویه مینه وکړئ او د ټول ژوند په اوږدو کې لوړ او لوی وه اوسئ.
( ... )

ستونزو ته هېڅکله وخت مه ورکوئ، چې ځان غټ در وپېژني.
( ... )

د انسان لویه نیمګړتیا دا ده چې له خپل عیبه نا خبر وي.
(توماس کارلایل)

د علم حاصلول ژوند ته تیاری نه دی، بلکې علم خپله ژوند دی.
(جان ډیویي)

وخت چا ته نه دریږي او نه هم ډېرېږي.
(شیللر)

په نړئ کې دوه شیان ډېر ښکلي دي: ستوري په اسمان کې او ارامه وجدان.
(کانت)

که په ځان د زړورتیا خطر ونه منئ، هېڅکله به خپل هدف تر لاسه نه کړئ.
(محمد علي کلي)

ketabton.com - The Digital Library

ستونزې مو په شګو او بریالیتوبونه مو د مرمرو په تیږو ولیکئ.
(پرمودا باترا)

خپل استعداد مه پټوئ، استعداد خدای«ج» د دې لپاره درکړی، چې کار ترې واخلئ.
(بنجامین فرانکلین)

انسان تل خطا او تېروتنه کوي، خو ښښل یوازې خدای «ج» کوي.
(الکساندر پاپ)

د جسماني فقر لپار ورزش، د روحي فقر لپاره دین، د مالي فقر لپاره هڅه او د معنوي فقر لپاره پوهه درمل دي.
(ژان ژاک روسو)

ښځه په ماشومتوب کې د سړي معشوقه، په زلمیتوب کې ژوند او په بوډاتوب کې یې روغتیا پاله ده.
(باکون)

هغه کسان چې په سترو مسایلو کې له ښځې په دې خاطر مشوره اخلي چې داهم مخلوق دی او د بشري حکمت او صلاحیت لرونکې ده، دغه ډول کسان لوی حکیمان دي.
(لونګولو)

د ښایسته ښځې موسکا د لمر وړانګو ته ورته ده، چې بدن، زړه او عقل ته خوښي وربښي.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

لوی استعداد پرته له لویې ارادې، وجود نه لري.
(بالزاک)

هغه کسان چې نه شي کولا ځان اداره کړي، مجبوره دي چې د نورو اطاعت وکړي.
(ویکتور هوګو)

واده د یو کلابند شوي ښار په څېر دی، هغه کسان چې د ښار د ننه دي کوښښ کوي چې ځان ترې وباسي او هغه کسان چې له ښاره بهر دي، هڅه کوي چې ښار ته دننه شي.
(فرانکلین)

ښځه تر ځان یو مرتبه ټیټه او ملګری تر ځان یوه مرتبه پورته انتخاب کړئ.

( ... )

لټي د انسان د خیال پرستۍ سبب کېږي.
(پوسا)

هغه چا سره مینه وکړئ، کوم چې تاسو ته نصیحت کوي، نه له هغو سره چې ستاسو ستاینه کوي.
(دور وبل)

کله مو چې قسمت له یوې ګوتې نیسي، باید ټول لاس ورکړو.

( ... )

ketabton.com - The Digital Library

لوی انسانان  یواځې په خپل ځان متکي وي او له خپل ځان پرته له نورو هېڅ تمه نه لري، خو واړه بیا تل د نورو په تمه ناست وي.
(پاتریک هانري)

یواځې پوهه کافي نه ده، بلکې پر خپلې پوهې عمل وکړئ.
(ناپلیون هېل)

هوښیار کسان په عمل ژوند کوي، نه په خیال.
(کارلوس کاستاندا)

عدالت د اخلاقي دندو یوه ټولګه ده.
( ... )

خدای«ج» وخت ته اړتیا نه لري او هېڅکله یې نه ډېروي.
(سکاول شین)

له هغه څه سره چې مینه لرئ په لاس یې راوړئ او هغه څه مو چې په لاس راوړي له هغه سره مینه وکړئ.
( جورج برنارد شاو)

هغه کسان چې ښه فکر کوي اړتیا نه شته چې ډېر فکر وکړي.
( ... )

هغه کسان چې په ژمنو وفا کوي، هغه تر ټولو غښتلي خلک دي.
(افلاطون)

په لږو مسایلو ډېر پوهېدل د پوهې مهارت دی.
(بي پیماستر)

ketabton.com - The Digital Library

د ښځې دنده د مېړه د اخلاقو سنبالول دي.
(والټر)

انسان هغه موجود دی، چې له هر شي سره عادت کيږي.
(داستا يوسکي)

تېروتنه د انسان يو کار دی، خو تکرار يې يوه حيواني کړنه ده.
(اناتول فرانس)

هغه کسان چې قدرت په پيسو اخلي، هغوی عدالت په پيسو پلوري.
( ... )

هغه کسان چې د مور او پلار عزت نه کوي، خدای «ج» د هغوی لمونځونه نه قبلوي.
( ... )

داسې يو څه وليکئ، چې خلک يې ولولي؛ يا داسې څه وکړئ، چې خلک پرې ليکنه وکړي.
(بنجامين فرانکلن)

ښځې تل د دولت او شهرت په فکر کې وي، خو نارينه د يوې مړۍ ډوډۍ.
( ... )

د طبيعت لومړی قانون نظم دی.
(ډيل کارنګي)

چېرته چې قدرت قدم وهي، هلته قانون کمزوری وي.
(ناپليون بناپارت)

ketabton.com - The Digital Library

د یوه کار په کولو سره بل کار پیدا کیږي، دا یو طبیعي قانون دی، چې له کار نه کار پیدا کیږي.
(سټیو چندلر)

څومره چې له نورو سره ښه سلوک او نیکي کوئ، هغومره ترې تمه مه کوئ.
( ... )

نارینه له واده سره سم په خپل تېر شوي ژوند کرښه راکاږي او میرمن یې په راتلونکې.
(سینکالویس)

ریښتونې خوشالۍ تر واده وروسته لاس ته راځي.
(پاستور)

واده وکړئ هر ډول چې وي که مو پخپل زړه او سم واده وکړ، نو نیکبخته به وی او که ناسم و، فیلسوف به شې.
(سقراط)

مور هغه بانک ته ورته ده، چېرته چې مونږ خپل غمونه او دردونه خوندي کوو.
(دیود تالماج)

واده هغه پیوند دی چې  له یوې ونې سره بله پیوندوي، که ښه وي دواړه به ژوندي پاتې شي او که بد وي دواړه مري.
(نیوټن)

ketabton.com - The Digital Library

ریښتیا هم داسې باور شته چې غرونه خوځوي، هغه پر ځان باور دی.
(ماري فون)

که په یو کار کې اخلاقي اصول په پام کې ونه نیول شي، هغه د فساد او تباهۍ سبب کیږي.
(کان بلانچارد)

هغه څوک چې په هېڅ نه پوهېږي، اړ دی چې په هر څه باور وکړي.
( ماري فون اشن باخ)

نړۍ له داسې خلکو ډکه ده، چې نورو ته د اوبو د څښلو تبلیغ کوي، خو په خپله شراب څښي.
(جواني ګاروشي)

د موسی لس فرمانه ځکه داسې لنډ او هر چاته د پوهېدو دي، چې په لیکلو کې یې حقوق پوهانو ګوتې نه دي وهلي.
(چالز دې ګول)
هغه څوک چې په خپل نفس حاکم دی، د هر دین له لارې خدای ته رسېدای شي.
(راما کرشنا)

جګړې ته تر تګ وړاندې دوه ځلې ځان ته دعا وکړئ، خو د واده کولو پر مهال درې ځلې.
( ... )

څومره چې متاهل کسان ډېر شي، جنایت هومره کمیږي.
(ولټر)

ketabton.com - The Digital Library

د نفس د تزکيې بنسټ د خدای وېره او پر اخرت باور دی.
(سقراط)

د یو چا د شخصيت پرځای دهغه له بدن سره مينه کول د ښارويو کار دی.
(سقراط)

دین ته سپېڅلي شيان رښتيني دي، خو فلسفې ته رښتيني شيان سپېڅلي دي.
(اوډويک فویرباخ)

د ګل پېژندنه د هغه له ښکلا څخه، خو د بوی يې له خوشبويۍ څخه کېږي.
( ... )

که یو پلار غواړي چې د خپلو اولادونو لپاره تر ټولو ارزښتمند کار ترسره کړي، هغه دا دی چې د خپلو اولادونو له مور سره مينه وکړي.
(هسبرګ)

د ژړلو لپاره تر ټوله غوره ځای د مور غېږ ده.
(جدی)

هېڅکله له داسې یو شخص سره واده ونکړئ چې له خپلې مور څخه کرکه ولری، ځکه چې یوه ورځ به يې له تا هم کرکه پيدا شي.
(جیل بینت)

هوښيار خلک له خپل قسمت سره یو ځای روان وي.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

عقلمند انسان د ځان لپاره فرصت نه لټوي، بلکې پيدا کوي يې.
(بېکن)

د برياليتوب پايله په پرلپسې هڅو او غوره تدبير پورې تړلې ده، نه ستاسې په قسمت پورې.
(مردولا اګروال)

د نارينه وو د زړه اړيکه له دماغ سره وي او د ښځو د زړه اړيکه له ژبې سره.
( ... )

د خوب له ليدو څخه مه وېرېږئ، څومره چې لوړ خوب ووينئ، په هماغه کچه يې لوړ حقيقت پروت وي.
(مردولا اګروال)

جګړه قوانين غلي کوي.
(سيسرو)

د يو هېواد چلولو لپاره داسې کس ته اړتيا ده، چې د سياست له رمزونو سره بلد وی او د هېواد بيړۍ د وخت له توپاني سيند څخه خوندي را وباسي.
(سقراط)

سياست يو هنردی؛ خو جمهوريت منل شوې ناپوهي ده.
(سقراط)

ketabton.com - The Digital Library

تولنه هغه وخت له اخلاقي فضلیت څخه برخمنه کیږي، چې قانون یو شان پلی شي.
(فرانسوا ولټر)

د هوښیار شخص ستونزې تل د هغه د بریالیتوب په لور مخ اړوي.
(مردولا اګروال)

تاسې به تر هغې پرمختګ ونه کړئ، څو د وخت له بدلون سره خپل ځانونه بدل نه کړئ.
(خان عبدالغفار خان)

په یاد ولرئ هېڅوک به له بدلون پرته پرمختګ ونه کړي، څومره چې ژر په ځان کې بدلون راولئ، هومره به ژر بریالیتوب تر لاسه کړئ.
(مردولا اګروال)

نارینه هغه وخت ژاړي، کله یې چې زړه ژاړي او ښځې هغه وخت ژاړي، کله یې چې سترګې ژاړي.
( ... )

انسان د کتاب مثال لري چې په پښتۍ یو څه لیکل شوي وي او په منځ کې بل څه.
( ... )

د مور لاسونه له مهربانۍ او شفقت څخه جوړ شوي دي او کوچنیان ډېر په خوښۍ ورباندې خوب کوي.
(ویکتور هوګو)

ketabton.com - The Digital Library

په دې بېخونده او ککړه نړۍ کې هر څه بې اعتباره ښکاري، اما هغه څه چې په سپېڅلتيا کې يي هېڅ شک نشته هغه د مور مينه ده.
(جيمز جايس)

ددې پرځای چې ځو کتابونه ولولئ، ښه دا ده چې يو ښه کتاب څو ځلې ولولئ.
(سنګا)

تر ټولو بد کار د کتاب نه لوستل او د هغه پر ارزښت نه پوهېدل دي.
(جيم)

مطالعه ستاسو د برياليتوب سبب کېږي.
(وس رابرتر)

بې حکومته ژوند کولای شو؛ خو پرته له کتاب او مطبوعاتو يې نه شو کولای.

(آبراهام لينکن)

مينه هغه جذبه ده، چې په پاکوالي يې دنيا قربانېدای شي.
( ... )

مور هر څه ده. د غم په وخت کې ډاډګيرنه، د ستونزو په وخت کې هيله او د کمزورتيا په وخت کې پياوړتيا. مور د مينې، مهربانی، خواخوږۍ او ښښنې سرچينه ده. هر هغه څوک چې د مور له نعمت نه بې برخې شي په حقيقت کې هغه سپېڅلی روح له لاسه ورکوي، چې تل دوی ته دعا کوي او د دوی ساتونکي وي.
(خليل جبران)

ketabton.com - The Digital Library

کوم سړی چې له نړۍ څخه خلاصون ومومي او آخرت ته لاړ شي هلته به هغه رښتيني قاضيان ومومي، چې په هکله يې ويل کيږي چې دوی هلته عدل کوي. (سقراط)

پر کومه پوهه چې انسان نازيږي هغه يواځې تشې او بې مانا خبرې دي. (سقراط)

فلسفه له کتاب څخه نه، له ژونده سرچينه اخلي.
(سقراط)

هر هغه څه چې زه نن يم او يا به په راتلونکي کې جوړ شم، پر ما د مور احسان دی.
(ابراهم لينکن)

ما په نړۍ کې تر خپلې مور ښکلې ښځه نه ده ليدلې. زه چې نن هر څه يم دا پرما د خپلې ګرانې مور احسان دی. زه په خپل ژوند کې خپله کاميابي د هغه اخلاقي، ذهني او فزيکي تعليم ثمره ګڼم چې، ما له خپلې مور څخه تر لاسه کړی دی.
(جورج واشنګټن)

هغه چې په ژوند کې موخه نه لري، نو د هغوی په اړه اټکل هم بې ګټې دی.
( ټي ټي منګر)

هدف لوړ ټاکئ، څومره چې ستاسې هدف لوړ وي، په هماغه کچه به په تاسو کې لوړوالی راولي.
(مردولا اګروال)

ketabton.com - The Digital Library

علم هغه کلی ده، چې تل د ازادۍ دروازې پرانیزي.
(جورج واشنګټن)

له زده کړې وروسته هر بدلون مثبت وي.
( ... )

زده کړه د انسان د جهل او ناپوهۍ تدریجي کشف کوي.
( ویل دورانت)

هیله د ګوښې، ارام او سکون سیوری دی، چې په خپله ارامه ډکه غېږ کې انسان د مایوسۍ په سمندر کې له ډوبېدو ژغوري.
( ... )

قلم د ذهن ژبه ده.
(میګویل سروانتس)

د قلم رنګ ستاسو په واک کې دی، جنت رسم کړئ او ور داخل شئ.
(کاز افتزاکس)

سپوږمۍ  هغه خاموشه مسافره ده، چې خپله په تیاره کې سفر کوي، خو نورو ته رڼا ورکوي.
( ... )

د علم ریښې ترخې؛ خو مېوې یې خوږې وي.
(ارسطو)

خدای«ج» هغو کسانو ته ازادي ورکوي چې په لټه کې یې وي.

(جین وبستر)

ketabton.com - The Digital Library

که ارام اوسېدل غواړئ، نو له خلکو سره وعدې کمې کوئ.
( ... )

زړورتیا د ژوند د ستونزو پر وړاندې مبارزه ده.
(بناپارت)

مرګ د دې سبب کیږي چې سړی د ژوند احساس وکړي.
(پایولو کویلو)

د خاموشۍ په مفهوم پوهیږو؛ خو په دې نه پوهیږو چې خاموشي څه وخت غوره کړو.
( ... )

د انسان لومړۍ دنده له ژوند څخه حق اخیستل دي.
(آرتور شوپنهاور)

د ژوند لارښوونکی عقل نه، بلکې عادت دی.
(دیوید هیوم)

مثبت فکر ستاسو زړورتیا زیاتوي.
( ... )

له ژوند سره نېکمرغي او غم دواړه ملګري وي، له هغه مه وېرېږئ.
(لارشفو کولډ)

که په دې فکر وو، چې د ژوند کولو لپاره یوه دنیا وخت لرو، نو تېروتنه مو کړې او وخت مو له لاسه ورکړی.
(ستیو چندلر)

ketabton.com - The Digital Library

د انسان ژوند د هغه له افکارو جوړ شوی دی.
(مارکوس اوریلیوس)

هغه څوک چې له مېرمنې هم لوړ شخصیت لري، هغه مور ده.
( ... )

انسان خپل برم او عظمت د مور په وسیله تر لاسه کړی دی.

(مثیلیه)

برخلیک مو په خپله وټاکئ، همدا شېبه پرېکړه وکړئ چې برخلیک به مو څه وي.
( ... )

د مذهب فلسفي ریښه د انسان وجود دی.
(اګوست ویلهلم شلګل)

څه چې یې، دا د خدای«ج» ډالۍ ده او څه چې کېږې هغه خدای«ج» ته ستا ډالۍ ده.
( ... )

د ښځې ژوند د مینه، درد او د کړاونو اوږده لړۍ ده.
(بلزاک)

خدای«ج» له بشر نه یواځې ارام زړه غواړي.
(میستر اکهارت)

د خدای«ج» تر ټولو لوی نعمت ژوند او شتمني ده.
(جورج برنارد شاو)

ketabton.com - The Digital Library

وجدان د خدای«ج» غږ دی.
(لامارتين)

هر خوب په هيله او اميد پيلېږي.
( ... )

عقل يو ځواک دی، چې نړۍ اداره کوي.
(رالف والدو امرسون)

هره شپه د ويده کېدو په وخت کې فکر وکړئ، چې نن مې څه وکړل او ايا د سبا لپاره د ژوند کولو لياقت لرئ.؟
( ... )

انسان هغه کس دی چې خپل ژوند پخپله جوړولی شي.
(آرتور شوپنهاور)

ټول شيان په دې نړۍ کې دوه مخونه لري. چاپېريال، کلتور، دين، هنر، سياست، مينه او داسې نور. هغه څوک چې په دې نه پوهېږي زه باور لرم چې هغه نېکمرغه دی.
(هرمن هېسې )

څه مو چې په وس کې نه وي، چا سره ژمنه مه کوئ.
( ... )

څوک چې په تقدير باور لري، هغه دا فکر هم کوي، چې څه خدای«ج» وغواړي، هغه کېږي.
(جين وبستر)

ketabton.com - The Digital Library

لومړی واده فرض، دویم کم عقلي او دریم لېونتوب دی.
(ډج کاوت)

په ښځو پسې مه ګرځئ او مه یې تر شا ځئ؛ بلکې تاسو په ځان کې داسې صفت پیداکړئ چې په تاسو پسې وګرځي.
( ... )

ښځه او مینه لازم او ملزوم دي.
(ارسطو)

بدبخت هغه کس دی، چې خلک ترې ډارېږي.
( ... )

هغه کسان چې ناهیلې اروا لري، هغه تر ټولو ګناهګار دی.
(ناپلیون بناپارت)

دا مهمه نه ده چې تا څه لیکلي، مهمه دا ده چې لوستونکو څه ترې واخیستل.
(اوریم)

جنت هغه وخت جنت شو، چې مور ترې وشړل شو.
(هرمن هېسې)

خلک له هغو کسانو خوند اخلي، چې له ژونده خوند اخلي.
(جان ماکسول)

چې ځان ته اور اچوې، نور خلک هڅه کوي چې ننداري ته دې راشي.
(جان وسلي)

ketabton.com - The Digital Library

د بریالیتوب مهم عناصر زړه سوی او له خلکو سره ملګرتیا ده.
(تیودور روزولت)

خلک هغه وخت تاسو ته ارزښت درکوي، چې پوه شي، تاسو اهمیت ورکوئ.
(جان ماکسول)

د نورو خدمت وکړئ، مخکې له دې چې ستاسو خدمت وکړي.
(جان ماکسول)

د ښځې او ټوپک ترمنځ هېڅ توپیر نه شته، ځکه دواړه وژل کوي.
( ... )

مینه کړاو دی، خو هغه چې یې نه لري ېښخي مړ دی.
( شکسپیر)

مینه پیاوړې اردو ده، په یو شېبه کې زړه او ماغزه تر برید لاندې نیسي.
(ویلتر)

بد تصور کول، د نه وړتیا په مانا دي.
(هاریو)

د هغه چا لپاره چې ژوند تریخ دی، د هغوی لپاره مرګ سعادت دی.
(نیچه)

هغه ښځه نېکمرغه نه ده، چې له کوم لوی شخص سره واده وکړي؛ بلکې نېکمرغه هغه ښځه ده چې له واده وروسته له خپل خاوند څخه لوی شخص جوړ کړي.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

تاریخ تل د خلکو له ژونده بحث کوي.
(تولستوي)

هغه خلک چې توان او قوت لري، اراده نه لري.
(ویکتور هوګو)

درې اړین ټکي له یاده مه باسئ: دخپلوانو درناوی، د نورو درناوی او د خپل کار مسوولیت.
(دالایي لاما)

لومړی د ځان په اړه پوه شئ ورسته د نورو تاریخ ولولئ.
(فرانسیس فانون)

تر ټولو ښه ژباړن هغه دی، چې د نورو چوپتیا وژباړي.
( ... )

که تاسې د خپل ځان په اړه ښه احساس نه لرئ، نو نه شئ کولی چې له نورو سره مینه وکړئ.
(شارون بیرالف)

تخیل له علم نه مهم دی، ځکه علم محدود دی؛ خو تخیل نړۍ په خپله لمن کې رانغاړي.
( ... )

له هغو کسانو مې هېڅ زده نه کړل، چې زما همفکره وو.
(مالرو)

ketabton.com - The Digital Library

د ښه ژوند لپاره د سپي په څېر کار وکړئ، د اسپ په څېر وخورئ، د ګېډرې په څېر فکر وکړئ او د سوېې په څېر منډه وکړئ.
(جورج آلن)

څه چې اورم هېروم يې، څه چې وينم ياد ته يې سپارم او هغه څه چې سرته يې رسوم درک کوم يې.
(کنفيسيوس)

بدبختي موږ ته دا راښيي چې نېکمرغه و اوسو.
(ژول رومن)

برى له دوه لارو تر لاسه کولاى شو، لومړى له خپلې هوښيارۍ او دويم د نورو له ناپوهۍ.
( لابروير )

لوى برياليتوب، د ملګرو ترمنځ اعتماد او باور دى.
(رالف والدو امرسون)

په ياد ولرئ ځينې وخت چوپتيا ترټولو ښه ځواب دى.
( ... )

تر ټولو ښه سياست صداقت دى.
(سروانتس)

د خپلو فعاليتونو لپاره ځانګړى وخت په پام کې ونيسئ، هغه کارونه چې ډېر اړين نه دي، وروسته يې تر سره کړئ.
(شارون بيرالف)

ketabton.com - The Digital Library

هیله د نیکمرغۍ یوه برخه ده.
(ژوبر)

مینه تر واده خوږه ده، لکه رومان چې تر تاریخ خوږ دی.
(ویلتر)

د مینې پیوند په بېلتانه څه، په مرګ هم نه شلېږي.
(ویلتر)

پرون تاریخ دی، سبا راز او نن ډالۍ ده.
(دالایي لاما)

که غواړئ حقیقي ژوند وکړئ، نو لومړی مرګ وپېژنئ.
(توکارام)

څوک چې بې وخته خبرې کوي، خبرې یې ارزښت له لاسه ورکوي.
( ... )

ځان لوی بلل لویه بدبختي ده.
(امرسون)

که خوشاله وئ، نو ورو وخاندئ چې غم مو ناراحت نه شي او که خفه وئ، نو په ارامه ژاړئ چې ښادي مو ناهیلې نه شي.
(چارلي چاپلین)

شکر کول نه یواځې لوی فضلیت دی، بلکې د نېکۍ یوه سرچینه هم ده.
(سیسرون)

اته ځلې چې ولوېدې اتم وار هم جګ شه.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

انسانیت حقیقت ته اړتیا لري.
(بېکن)

په ځمکه کې تر انسان او په انسان کې تر فکر لوی څیز نشته.
(همېلټون)

د لوړې مرتبې د تر لاسه کولو لپاره باید له ځانه تېر شو.
( ... )

ښه دا ده چې شتمن ژوند وکړو، نه دا چې له نړۍ شتمن لاړ شو.
(جانسون)

په وړتیا باور لرل، نیم بریالیتوب دی.
(روسو)

د ماشومانو د روزلو پر وخت لومړی باید د هغوی شخصیت او اړتیاوو ته پام وشي.
(شارون بیرالف)

سعادت عادت دی، هغه وروزئ.
(آلبرت هوبار)

یو څوک د ځینو لپاره یو کس؛ خو د ځینو لپاره ټوله نړۍ وي.

(مارکز)

د انسان د شخصیت ستر دښمن ډار دی.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

لومړی او تر ټولو لوی بری په ځان تسلط دی.
( افلاطون)

که رنځ او ماتې په ځان ونه منئ، هېڅکله به بری ونه مومئ.
( آنتوني رابینز)

مه هېروئ چې په ژوند کې بریالیتوب په انګېزه او ارادې سره رامنځته کیږي.
(آنتوني رابینز)

تر ټول بده دا ده، چې یو شخص خپله د ځان ستاینه کوي.
(افلاطون)

هیله د انسان په ژوند کې دومره مهمه ده، لکه د مرغۍ لپاره د ونې ښاخ.
(شوپنهاور)

له خاوند سره د کتاب په څېر چلند وکړه، ستړي کوونکي فصلونه یې مه لوله.
(سوني سمارت)
د بریالیتوب کلۍ ټینګه اراده ده.
(رابرټ سون)

اخلاق باید پر هنر حکومت وکړي.
(ایمانویل کانت)

له ننګونو او ستونزو سره مقابله یو موقع ده چې هر وخت په لاس درغله، ګټه ترې پورته کړئ او تل مقابله وکړئ.
(مردولا اګروال)

ketabton.com - The Digital Library

دا توان یواځې په انسان کې دی چې خپلې کمزورۍ په خپل ځواک بدلې کړئ.
(مردولا اګروال)

هېڅ شی نه شي کولای چې پر مینې حکومت وکړي، دا مینه ده چې په هر څه واکمنه ده.
(لافونتن)

پر ځان باور لرل لویه اړتیا او لوی مسوولیت دی.
( ... )

که غواړئ چې شخصیت ته مو زیان ونه رسېږي، نو دعا خپل عادت وګرځوئ.
( ... )

نېکمرغي د ذهن کیفیت دی، چې فکر ترې خوند اخلي.
(ماکسول مالتز)

حکمت هغه ونه ده چې رېښې یې په زړه کې او مېوې یې په ژبه دي.
(بطلمیوس)

هغه شی چې ډېره رڼا لري، هغه ژور سیوری لري.
(ګوېته)

ځینې وخت له خبرې کولو سکوت ښه دی، سکوت کولای شي موخو ته مو ورسوي.
(لارد اویبوري)

لوی هدفونه لویې انګېزې منځ ته راوړي.
(آنتوني رابینز)

ketabton.com - The Digital Library

لويې څاه ګانې له چينو او لوی زړونه له اوښکو ډک دي.
(ژوزف رو)

لويه مينه هغه ده چې هر څه درکړي؛ خو په بدله کې يې درنه هېڅ ونه غواړي.
(ليوبو سکاليا)

د انسان برخليک يواځې مينه ټاکي.
(مايسون)

که غواړئ چې اوږد عمر ولرې، بايد خوشاله ژوند وکړئ.
(سيسرون)

برياليتوب د ماتې په څېر خطرناک دی.
(ميو تيزو)

د قوي ارادې په لرلو سره د هر څه خاوند يې.
(ګوېته)

په دريو وختونو کې بايد د دريو شيانو کلک ساتونکي واوسو: په تنهايۍ کې د افکارو، په کور کې د اخلاقو او په ټولنه کې د ژبې.
(مادام داستال)

د نورو سعادت غوښتل تر ټولو لويه نېکمرغي ده.
(الثرر)

د هېواد ابادي د ازادۍ له مخې سنجول کيږي، نه د حاصلاتو له مخې.
(مونتسکيو)

په نړۍ کې يواځې دوه شيان ښايسته دي: ښځه او ګل.
(مالرب)

ketabton.com - The Digital Library

په یاد ولرئ چې هېڅوک د ژوند په لاره یوازې قدم نه شي وهلی.
( ... )

زموږ په ژوند کې تر ټولو لویه ستونزه دا ده، چې په خپل کار کې نظم او ترتیب نه لرو.
( ... )

کوم کار چې ستاسو په اصلیت کې نه وي، هغه هېڅکله مه کوئ؛ ځکه داسې کړنې د خوښۍ پر ځای ستونزې درکوي.
(مردولا اګروال)

یو شخص د هغه کار په تر سره کولو مه مجبوروئ، کوم یې چې زړه نه غواړي.
( ... )

زموږ استعداد حد نه لري؛ خو موږ یې محدودوو.
(مردولا اګروال)

که غواړئ چې مشري تر لاسه کړئ، نو لومړی اقدام وکړئ.
(مردولا اګروال)

تاسې د خپل ژوند ذمه وار یاست که هغه خوښي وي یاغم، ښه وي یا بد، برې وي او که ماتې.
(میګ ګرا)

تقدیر د کوم نابېره پیدا کېدونکي شي نوم نه دی، بلکې ستاسو د انتخاب نوم دی.
( ولیم پراین)

ketabton.com - The Digital Library

هېڅوک د تل لپاره په بدمرغۍ محکوم نه دی.
( ... )

ماشومانو ته وخت ورکړئ چې ماشومتوب تېر کړي.
(شارون بيرالف)

څوک مو چې نه خوښېږي، په اړه يې يوه شېبه هم فکر مکوئ.
( ... )

خوشالي په خپل ځان او بدن کې پيدا کېږي، دا يو بهرنی څيز نه دی.
( ... )

که د ژوند په هدف نه پوهېږئ، نو ښه کولای شئ چې د ژوند د لوبې
ګټونکي اوسئ.
(آنتوني رابينز)

د لوړ فکر خاوند اوسه او لوړ هدفونه وټاکه!
(ميکا آنج)

خپل فکر د اسمان له ستورو څخه لوړ وساتئ.
( ... )

مينه کولای شي چې لوړ مقام ته مو ورسوي.
( ... )

له ماشومانو سره مينه دومره اړينه ده، چې په کموالي يې کېدای شي
ماشوم تباه شي.
(شارون بيرالف)

ketabton.com - The Digital Library

خلک دا نه خوښوي، چې ستاسو د انګړ دروازه وټکوي او د ملګرتیا غوښتنه درڅخه وکړي، تاسو خپله باید ملګري ومومئ.
( ... )

هغه اور چې زموږ ځان او مال سېځي، ډېری وخت مو په خپله بل کړی وي.
(برکټر)

ای ځوانانو! افسوس چې د وخت په ارزښت نه پوهېږئ!
(ګوېته)

تر ټولو لوی خطر د بریالیتوب په وخت کې رامنځ ته کېږي.
(ناپلیون بناپارت)

له نن پرته بل هېڅ ارزښت لرونکی شی نشته.
(ګوېته)

تاسو به هېڅکله دومره وخت ونه لرئ، لکه نن ورځ یې چې لرئ.
( ... )

که چېرې تاسو د خپل ځان په هکله ښه احساس ونه لرئ، نو نه شئ کولی چې له نورو سره مینه وکړئ.
(شارون بیرالف)

لوی خدای«ج» بشر ته کلک قوت او طاقت ورکړی، چې هغه اراده ده.
( ... )

زړ واده کول تېروتنه ده او ورسته واده کول لویه تېروتنه ده.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

په ماشومتوب کې د زده کړې اغېز داسې دی، له د تیږې پرمخ نقش.
(انیشتین)

ښوونکی د ملتونو هغه څراغ دی، چې له رڼا یې هر وګړی ګټه اخلي.
(ویکټور هوګو)

هغه کسان چې له خلکو وېرېږي، هغه له خدای«ج» نه وېرېږي.
(تولستوي)

وېره او هیله هېڅکله یو ځای سفر نه کوي.
( ... )

د ژوند لوی راز په زغم کې دی، د یوې ناڅرګندې راتلونکې لپاره باید حال تریخ نه کړئ.
(جان ډېوېډ)

راتلونکی د هغه چا دی، چې هرکلي ته یې ورځي.
(نېچه)

مینه د ټولو فصلونو مېوه ده او څانګو ته یې د ټولو لاسونه رسېږي.
(ترزا)

اخلاق جوړ شوی شی نه دی؛ بلکې ذره ذره او ورځ په ورځ رامنځته کېږي.
(ارنالیل)

مینه مو وژني، څو دویم ځلې ژوند راکړي.
(شکسپیر)

ketabton.com - The Digital Library

که له انسان نه خپلې ښې هیلې واخیستل شي، نو د ځمکې پر مخ به تر ټولو عاجز موجود وي.
(کانت)

هغه څوک چې ایمان لري، د هغه لپاره د (ناشونې) کلمه نشته.
(رابینز)

که ښایست سره درنښت ونه لرئ، نو ښایست مو لکه بې بویه عطر او بې بویه ګل دی.
( ویکتورهوګو )

دنیا د هغو کسانو ده، چې انرژي او توده وینه لري.
(ناپلیون)

د ماشومانو برخلیک په مور او پلار پورې تړلی دی.
(ویکتور هوګو)

د زده کړو هدف د ماشین جوړول نه دي؛ بلکې موخه یې د انسان جوړول دي.
( ... )

تاسو خپله د عواطفو او احساساتو سرچینه یاست، هر وخت چې وغواړئ کولای شئ، رامنځته یې کړئ او یا یې بدل کړئ.
( انتوني رابېنز)

انسانیت تل حقیقت ته اړتیا لري.
( بیکن )

لوی انسان وروسته وعده کوي او ژر یې سرته رسوي.
(کنفوسیوس)

ketabton.com - The Digital Library

که مو مینه له لاسه ورکړه، نو ژوند مو له لاسه ورکړ.
(لیوبوسکالیا)

څومره چې ډېره مینه ورکوئ، هغومره به مینه مومئ.
(کارتر اسکات)

تر هغه چې باوري نه شم، هیله له لاسه نه ورکوم.
(جان پل سارتر)

درې شیان ډېر سخت دي: پولاد، الماس او د ځان پېژندنه.
(فرانکلین)

یواځېتوب په جنت کې هم ارزښت نه لري.
(دو سن پییر)

د ماشوم روزنه له زیږېدو شل کاله مخکې باید پیل شي.
(ناپلیون)

د حق پېژندنه د زده کړو نښه ده، که غواړو چې اولادونه مو حق پېژندونکي وي، نو باید په زده کړو یې سنبال کړو.
(ډیل کارنګي)

د ارادې د روزنې لپاره تر ټولو ښه وخت د ځوانۍ دوره ده.
(فیثاغورث)

لنډ متلونه له اوږدو تجربو وروسته را منځته شوي دي.
(سروانتس)

له زده کړو تل پوهېدل ښه دي.
(لوبون)

ketabton.com - The Digital Library

که غواړئ چې عمر مو ډېر شي، په ځوانۍ کې سپین ږیري شئ.
( ... )

زده کړې باید د ماشومتوب له دورې پیل او د ژوند په هره دوره کې دوام ولري.
(افلاطون)

ټول زده کړو ته اړتیا لرو، له وزیره نېولې تر کارګره.
(پرمودا باتر)

لوي کارونه یواځې لویو خلکو کړي او خلک هغه وخت لوېږي چې وغواړي.
(شارل دوګل)

یواځې نن ژوندی نه یې، باید په راتلونکې کې هم فکر وکړې.
(مارسل)

هغه څوک چې سخاوت لري، هغه زړورتیا ته اړتیا نه لري.
(سعدي)

هغه استعداد چې ستاسو په وجود کې دی، کشف او څرګند یې کړئ.
(انتوني رابېنز)

که غواړئ چې د نن او سبا لپاره ګټور وئ، له تېر نه درس واخلئ.
(ناپلیون)

که له خپلو احساساتو نا راضه یاست، نو تمرکز مو بدل کړئ.
(انتوني رابینز)

ژوند دعقل او عاطفې ترمنځ د مبارزې برخه نه ده.
(مارک ټواین)

ketabton.com - The Digital Library

که غواړئ چې په خپلو خبرو مو باور وي، نو له ځانه خبرې مه کوئ.
(بېلز پاسکال)

کله چې د ازادۍ ونه ريښې وکړي، نو په ډېرې چټکۍ وده او نمو کوي.
( جورج واشنگټن)

د ازادۍ په قدر تر هغه نه پوهېږو، تر څو مو چې له لاسه نه وي ورکړي.
(والټر)

مېړمن او خاوند له واده يو کال وروسته د يو بل ښايست ته فکر نه کوي؛ بلکې د يو بل اخلاقو او تګلارې ته فکر کوي.
(سمايلز)

دروغ که څومره لوی وي، احمقان پرې هغومره زر باور کوي.
( ... )

تر ټولو پاکې او مبارکې شيدې، د مور شيدې دي.
( ... )

ژوند د ترخې موسکا په څېر دی، په لومړي نظر ليدونکي ته تبسم ښکاري، خو که ورته ځير شې بيا ژاړي.
(جري ټايلر)

د انسان ژوند د شبنم په څېر دی، چې د ګل له پاڼې وښوييږي، څاڅي.
(بودا)

د هرې ماتې لامل، له فکر پرته عمل کول دي.
(الېکس مکنزي)

ketabton.com - The Digital Library

په خپله ستړیا باید هېڅکله ونه شرمېږې، یوازې هڅه وکړه چې ستړی کوونکی ونه اوسې.
(هیلز هام)

تاریخ لیکونکی د ټولنې تاریخ لیکي، نه د انسان .
(میلان کونډرا)

هر څومره چې زر تصمیم ونیسئ، په هماغه اندازه مو د تصمیم نیولو قدرت ډېرېږي.
(انتوني رابینز)

په هغه څه چې صادقانه باور لرئ، هغه شاید غلط نه وي.
(ډي ایچ لارسن)

په ځان باور ولرئ، تر څو نور په تاسو باور وکړي.
( ... )

د بدن د غړو قدرت مو د سپورټ او د تصمیم نیولو په تمرین سره ډېرېږي.
(انتوني رابینز)

نېکمرغي د توپ په شان ده، چې رانه لرې شي منډې پسې وهو، کله چې په لاس راشي بیا یې په لغته وهو.
(شاتو بریان)

د انسان لومړی دنده، کوښښ دی.
(ګوېته)

پوهه او ښېګڼه سره لازم او ملزوم دي، کوم کسان چې پوهه لري، هغه له شرک څخه ډک کارونه نه شي کولای.
(سقراط)

ketabton.com - The Digital Library

هغه کسان د زړه سوي وړ دي، چې مشوره ورکوونکي يې ناپوهان دي.
(سقراط)

لټي دې ته نه وايي چې يو څوک څه نه کوي، بلکې کوم کسان چې د داسې کارونو په ترسره کولو کې ژوند تېروي، چې د دوي له وړتيا ټيټ وي، دوی په لټانو کې شمېرل کيږي.
(سقراط)

څومره چې لږې هيلې ولرئ، هغومره له محروميت نه محروم ياست.
(پلوټارک)

ناهيلي يعنې له ځان او نورو نفرت کول.
(ژيلبر نربرون)

د انسان لپاره حقيقي مرگ د اميد مړينه ده.
(ناپليون)

که څوک يو ځل فرېب راکړي، هغه ته ننگ دی او که په دويم ځل فريب راکړي، بيا ماته ننگ دی.
( ... )

د لوړ فکر خاوندان اوسئ؛ خو له کوچنيو خوشاليو بې خبره مه اوسئ.
( ليتور روزولټ)

د وجدان راضي کول لويه مرتبه ده.
(ژول سيمون)

د ټولو واقعيتونو له پوهېدو وروسته تصميم ونيسئ.
(هاوکز)

ketabton.com - The Digital Library

هېڅ شی انسان دومره نه مړوي، لکه احساس.
(ارسطو)

پلټنه وکړئ او تل په پلټنه کې اوسئ.
(تولستوي)

داسې ژوند وکړئ چې د خوشالۍ احساس زيات او د خپګان کم وکړئ.
(انتوني رابينز)

د يوې ټولنې نېمګړتيا دا ده چې هر څوک غواړي يو لوی کس وي، خو د بل لپاره لويي نه خوښوي.
(چرچېل)

په دنيا کې هغه خلک بريالي دي چې نورو ته په تمه نه وي او هر څه له ځانه غواړي.
(شېلر)

طبيعي علوم بې له دين څخه فلج او دين بې له طبيعي علومو ړوند دی.
(البرټ انشټين)

که په يو شي په زور عقيده کوې، هغه ارزښت نه لري.
(ارسطو)

د ښځې يوې موسکا ډېر تختونه وران کړي او ډېرې ماڼۍ يې نړولي.
(ډاکټر امير)

لاړ شئ د هغه په لور چې ايمان پرې لرئ او عمل پرې وکړئ.
(والډو امرسون)

د سولې او ارامۍ لپاره هېڅکله خپل باور او تجربې له لاسه مه ورکوئ.
( ډاګ هامرشولډ)

ketabton.com - The Digital Library

د مینې له معجزو یوه معجزه دا ده چې د مینې له درده د خوند اخیستو احساس کوو.
(ژان ژاک روسو)

که چېرې زموږ په کار کې (که) نه وي شاید په هغه کې بریالي شو.
(نېلسن)

که غواړئ چې سیالي وکړئ؛ نو داسې چا سره یې وکړئ چې تر تاسو ښه او بریالی وي.
(لویي اګاسیز)

کله چې هدف له لاسه ورکوو، نو باید کوښښ څو برابره کړو.
(ټو این)

ایمان د روح قوت دی.
(انتوان چخوف)

زه تل په دې باور وم، چې په طبیعت کې تر ښځې نور ښکلی شی نه شته. (ګابریل ګارسیا مارګز)

نېکمرغي په علم کې نشته؛ بلکې دهغه د استعمال په طریقه کې ده.
(اوګاریو)

چې تاسو د بریالیتوب پر لور حرکت ونه کړئ، بریالیتوب تاسو ته نه راځي.
(مارواکلینز)

پر ما خپل هېواد تر خپلې کورنۍ ګران دی، خو تر خپل هېواد له انسانیت سره ډېره مینه لرم.
(فنلون)

ketabton.com - The Digital Library

که غواړئ چې خپل ایماني ځواک سمبال کړئ؛ نو خپل زړه د کومې ښایسته ښځې په واک کې مه ورکوئ.
(فېلمنګ)

په نړۍ کې تر ټولو خوندوره مینه هغه ده چې یو ښځه یې خپل بدرنګ خاوند ته وړاندې کوي.
( ... )

ښه اخلاق یواځې امن، سوکالي او سلامتي نه راوړي، بلکې په زړونو کې ځای هم جوړوي.
(سقراط)

په کوم شي چې نه پوهېږې هغه مه وایه، څه ته چې اړتیا نه لرې، هغه مه لټوه او کومه لار چې درته معلومه نه وي، پر هغې مه ځه!
(سقراط)

ښځه په خپله یو فتنه ده او د هغې لیکل او لوستل تر ټولو ستر فتنه ده.
(سقراط)

ډېری خلک تر ناڅاپي بریا؛ ناڅاپي مرګ ته تیار دي.
(ګیل فلان)

د نېکمرغۍ خطر دا دی، چې د نېکمرغۍ په حالت کې سړی هر برخلیک مني.
(نېچه)

په وعدو باور مه کوئ، ځکه نړۍ له وعدو ډکه ده.
(پایولو کویلو)

ketabton.com - The Digital Library

هغه څه چې د روح د امنیت سبب کیږي هغه ایمان دی.
(ګارودي)

تر ټولو لویه ګناه ځان کمزوری بلل دي.
(ویوکاناندا)

وینې تویوونکي خلک، تر ټولو ډارن دي.
( ... )

شتمني مچۍ ده، که په ساتنه یې پوه شې شات درکوي، که نه نېش درکوي او الوځي.
(ډاکټر مارډن)

هغه لاسونه چې مرسته کوي، تر هغو لاسونو سپېڅلي دي، چې اسمان ته په دعا پورته وي.
(کوروش)

په نېکمرغۍ ایمان لرم، ځکه ډېره هڅه کوم.
(هنري توریو)

د انسان د روزنې لپاره تر ایمان نور قوي څه نشته.
(انتوني رابېنز)

انسان هومره دی، څومره چې باور لري.
(انتوان چخوف)

چې نه پوهېږې، چې چیرته روان یې، نو ځنګه هیله لرې چې هلته به ورسېږې.
(والش)

ketabton.com - The Digital Library

دین یو دین دی، خو عقیدې بېلا بېلې دي.
(امانویل کانت)

که باور ولرې چې کولای یې شې، نو حتما یې کولای شې.
(ناپلیون هېل)

انسان مخکې له دې چې د یو څه په اړه څه ووایي، ښه دا ده چې ویې وینې.
(تورو)

له حده ډېر مهربان و اوسئ.
(جکسون بروان)

د ښځې اخلاق د هغې تر واده وروسته معلومېږي.
( ... )

د ښځې کتل نافذ قانون او اوښکې یې ولاړ شاهد دی.
(فرانکلین)

که غواړې چې کومه ښځه درته رښتیا ووایي؛ نو د هغې د ښایست او نورو صفتونو ستاینه وکړئ.
(وندهام لویس)

افسوس چې ځوان نه پوهېږي او زوړ نه توانېږي.
(محمد حجازي)

ډېر کار کول مهم نه دي، بلکې سم کار کول مهم دي.
(پاره تو)

ketabton.com - The Digital Library

په خپله ورېتيا باور لرل، د بريالیتوب په لور ګام دی.
(ژان ژاک روسو)

له باور پرته، نه شئ کولای هوسا ژوند وکړئ.
(انتوني رابېنز)

هغه کسان چې ايمان نه لري تل دروغ وايي.
(نيچه)

عقيده لرل سخته ده او نه لرل ناشونې.
( ويکتور هوګو)

هوښيار تل د بل شخص له بديو ګټه اخلي .
(جورج باني)

پوښتنې زموږ افکار جوړوي.
(رابينز)

تمدن ژوند نه دی؛ بلکې د ژوند جوړوونکی دی.
(ويليامز)

لويه بدبختي دا ده چې د بدبختۍ زغم ونه لرو.
(باس)

زړور يو ځل مري، ډارن زر ځلې.
(الين چانک)

چې له مرګ ډارېږي، هغه له ژونده خوند نه شي اخيستی.
(سپانيولی)

د انسان ښايست په دريو شيانو کې دی: په علم، محبت او ازادۍ کې.
(افلاطون)

ketabton.com - The Digital Library

اطمنان د باور ستنه ده.
(ليوبو سکاليا)

له باور پرته هر ډول مينه دوام نه کوي.
( ليوبو سکاليا)

هغه څوک چې په علم عمل نه کوي، لکه ناروغ چې درمل لري، خو استفاده ترې نه کوي.
(ديمقراطيس)

د نورو په لاربنونه واده کول په دوزخ کې ژوند کول دي.
(شوپنهاور)

سياست : يعنې خدای ته داسې عبادت کول چې شيطان په غوسه نه شي.
(توماس مکولر)

هنر د ژوند پيژندنې کلی ده.
(اسکار وايله)

له هر څه مخکې بايد يوه شئ چې څه غواړئ.
(فوخ)

د بريالیتوب لومړی ګام د ادب زده کړه او نورو ته درناوی دی.
( ... )

ازادي په يوه کس پورې تړلې نه ده، د ټولو مال دی.
(اسپنسر)

هغه کسان تل له ژونده شکايت کوي، چې نه پوره کېدونکي غوښتنې لري.
(رېنان)

ketabton.com - The Digital Library

که پر ځان باور ولرئ، هېڅ کار ګران نه دی.
(کیم وو چونګ)

که څه مو ذهن درک او باور پرې وکړئ، کولای شئ چې هغه لاس ته راوړئ.
(ناپلیون هیل)

هوښياران چې په څه پوهېږي هغه نه وايي، خو هغه څه چې وايي په هغه نه پوهېږي.
(ارسطو)

په ياد ولرئ، چې د نن فرصت سبا نه لرئ.
(دانته)

شپه هغه وخت ښکلې ده، چې په رڼا باور ولرو.
(دوروستان)

له ګناه کرکه وکړئ، نه له ګنهګارانو.
(ګاندي)

يوازې په کېنا ستلو او فکر کولو بسنه مه کوئ، اقدام وکړئ.
(انتونی رابينز)

که څه مو په لاس رانه وړل هېر يې کړئ او که د هېرولو توان يې نه لرئ بيا هڅه وکړئ په لاس يې راوړئ.
( شکسپير )

په هر کار کې نرمښت د انسان د نېکمرغيو لامل کېږي.
(انتونی رابينز)

ketabton.com - The Digital Library

دخدای«ج» د رحمت باران تل اوري، دا زموږ ګناه ده چې کاسې مو سرچپه نیولي.
( ... )

د انسان او حیوان ترمنځ فرق په پوهه او فکر کې نه؛ بلکې په اراده او اختیار کې دی.
( روسو)

د کمزورې ارادې نتیجه خبرې او د قوي ارادې نتیجه عمل دی.
(ګوستاولوبون)

که په خطا لاره لاړئ له بېرته راګرځېدو یې مه وېرېږئ.
(کنفسیوس)

له حقیقت سره مینه ولرئ، خو تېروتنې مو وبښئ.
(والټر)

هغه چې په نورو حکومت کوي، هغه لومړی باید پر ځان حاکم وي.
(فیلیپ مسینجر)

ښنونکی انسان محبوب وي، که فقیر هم وي.
(ارسطو)

د باور نه کولو مانا په باور نه پوهېدل دي.
(لایو تزو)

رښتیا امانت دی او دروغ خیانت.
(بوذرجمهر)

ketabton.com - The Digital Library

د غله او شتمن تر منځ توپير دا دی، چې غل د شتمن مال او شتمن د فقير پيسې غلا کوي.
(برناردشاو)

فقير د خپلې خېټې د مړولو او شتمن د خپلې ناراحتۍ په درملنه کې په عذاب دی.
(بنجامين فرانکلين)

مخکې له دې چې نور قرباني کړو، ښه ده چې ځان قرباني کړو.
(ماهاتما ګاندي)

که پر يو کمزوري کس غوسه شې، دليل يې دا دی، چې زور نه لرې.
(ولټر)

بريا د ماتې د ستنو پر مټ خپله څېره جوړوي.
(سري چتري)

د بريا درې رکنه دي: مشوره، تصميم او درېيم ټاکنه.
(لوپ دووک)

د علم په دروازه ليکل شوي چې بايد ايمان ولرې.
(ماکس پلانک)

کم پوهېدل او ډېر ويل د نشت او د بې ځايه لګښت په مانا دي.
(ناپليون)

په زړه سوي او احترام له نورو سره تګ کوئ.
(انتوني رابينز)

ketabton.com - The Digital Library

د ځينو انسانانو په مغزو کې يو ميليون حقيقتونه ثبت وي؛ خو بيا هم بې سواده وي.
(الېک بورن)

علم د تمدن د لېږد وسيله ده.
(ويل دورانت)

ملګري د پيسو په څېر دي، له لاسته راوړلو يې ساتل اسان دي.
(باټلر)

خندا د دو کسانو ترمنځ لنډه فاصله ده.
(ويکتور هوګو)

پيسې د سولې مور او جنګ يې پلار دی.
( ... )

شتمنی د ژوند لپاره وغواړئ نه ژوند د شتمنۍ لپاره.
(لارډ اويبوري)

که څوک فقير وي؛ خو چې قناعت کوونکی وي هغه په حقيقت کې شتمن دی.
(ويليام شکسپير)

ښه انسان هغه دی چې د هر چا د حق دفاع وکړي.
(کنفسيوس)

هغه کسان چې استقامت لري، د ماتې مخ نه ويني.
(مترلينګ)

ketabton.com - The Digital Library

د نورو د مینې د لاسته راوړلو لپاره تر ټولو ښه وسیله له نورو سره نیکي کول دي.
(روسو)

مینه ښځې ته ژوند وربښي او سړي ته رنځ.
( ... )

تر ټولو نږدې مرګ او تر ټولې لرې، هیله ده.
(سقراط)

نړۍ ټوله ښکلې او ښایسته ده، خو که موږ ورته لږ ځیر شو.
(پاسکال)

که څوک تاریخ لولي هغه په تېر او په اوس کې ژوند کوي.
(الفرډ روزنبرګ)

د هوښیار پانګه د هغه علم او پوهه ده.
(پاسکال)

انسان نه شي کولاي چې له ټولو سره نیکي وکړي، خو ټولو ته یې وربښودلای شي.
(رولن)

هغه چې د نورو مرستو ته یې سترګې نېولې وي، هغه ګول خوري.
(فرانسوی متل)

انسان له فکر کولو پرته ژوند نه شي کولای.
(بنجامین فرانکلین)

نېکمرغي څلورعوامل لري: روغتیا، ښایست، شتمني او ښه ملګری.
(ساموید)

ketabton.com - The Digital Library

زه له راتلونکي سره مينه لرم، ځکه پاتې عمر مې په کې تېرېږي.
(کټرېنګ)

د تاريخ ډېره برخه ګومان او پاتې يې تعصب دی.
(ويل ډورانت)

هر هغه څه مو چې نه وژني، تاسو غښتلي کوي.
(مارلون براندو)

ډېری ناپوه خلک يواځې د ګټې غوښتونکي وي، په دې نه پوهېږي چې په کارو بار کې څومره حقيقت دی.
(سقراط)

د سياسي ژوند سمون يواځې هغه څوک کولی شي، چې په هره پوهه، هنر او اخلاقي ښېګڼه کې پوره ذهني وړتيا لري.
(سقراط)

پوهه دوه ډوله ده، رښتينې او نارښتينې، د رښتينې پوهې بنسټ د پوهې لټون دی او د نارښتينې پوهې بنسټ بې ځايه خيالونه دي.
(سقراط)

دوه خبرې دي، يا به ته وخت چلوې يا به تا چلوي، خو که وخت تا چلوي بيا دې خدای مل شه.
(جېم روهن)

په ژوند کې داسې اوسئ، که هرڅوک بد در پسې ووايي، چې هېڅوک يې ونه مني.
(برايان تريسي)

ketabton.com - The Digital Library

کله چې ته‌وله شتمني له لاسه ورکړئ، نو ټول دوستان له لاسه ورکوئ.
(وتوشن)

د انسان پانګه وړتیا نه؛ بلکې ښه خوی دی.
(پوشا)

ښه تاریخ لیکونکی هغه دی چې بد ګومانه وي.
(جیم بیشوپ)

هغه کسان په ژوند کې خامخا ماتې خوري، چې په خپل ذهن کې د ماتې سوچونه کوي.
(ناپیلیون هېل)

اړینه نه ده چې چېرته زړه‌دلي یو، خندګه او چېرته ژوند کوو؛ بلکې اړینه دا ده چې چېرته وو او څنګه تګلاره باید خپله کړو.
(جوجیا اوکیف)

هغه چې کتابتون لري مه ترې وېرېږئ، مګر هغه چې یو کتاب لري ترې وډار شئ.
(علامه محمد حافظی)

په خپل وخت ویده کېدل او په وخت له خوبه ویښېدل سړی تندرست، خوشاله او شتمنوي.
(بن فرانکلین)

د نر په ښیاست هغه وخت پوه شوم، کله چې د زوی څښتن شوم.

(باربارا سترایسند)

مطالعه وکړئ، تر څو په هغه پوه شئ، چې هېڅ پرې نه پوهېدئ.
(مونت کیو)

ketabton.com - The Digital Library

د اوس په قدر اوس پوه شئ چې تېر بيرته نه راځي او په راتلونکې کې شايد رانه شي.
(ګاليله)

په نړۍ کې مې له يوه کس سره مينه لرله، چې هغه زه خپله وم.
(ناپليون)

د مينې کروندګر د اوښکو لوګر دي.
(وېلز)

مينه د نر او ښځې ترمنځ اوږده جګړه ده.
(کلودفادو)

د مينې په لار کې د عقل پښې ماتېږي.
(ميترلينګ)

ممکنه ده چې په ټوله دنيا کې يو کس وي، خو د ځينو کسانو لپاره ټوله دنيا يې.
(ګابريل ګارسيا مارکز)

تل په ځان باور ولرئ، که مو يو ځل کار په برياليتوب سرته رسولی وي بيا هم کولای شئ.
(انتوني رابينز)

زېږېدل لويه خوشالي ده، خو مرګ لوی غم دی.
(هوارد فاست)

د نن ځوان دا فکر کوي چې پيسې هر څه دي، خو چې کله لوی شي نو پوه شي چې داسې نه ده.
(سکار وايلد)

ketabton.com - The Digital Library

هغه کسان چې پیسې په سختۍ لاس سته راوړي، په اسانۍ یې نه ډالۍ کوي.
(جورج کلاسرن)

له تېر نه زده کړئ، نن ژوند وکړئ او د سبا په هیله اوسئ.
(البرټ انیشټین)

په دې نړۍ کې له دوو لارو بریالي کېدای شئ، لومړی له خپلې هوښیارۍ او دویم د نورو له ناپوهۍ نه.
(لابرویر)

د انسان لويي په فکر کې ده.
(بېلز پاسکال)

که یواځې د پیسو لپار کار کوئ؛ نو هېڅکله به نېکمرغه نه شئ.
(هنري توریو)

خوښي له هر ډول شتمنۍ څخه غوره ده.
(سوفوکل)

تر ټول ارزښتناکه شتمني مې شرافت او عزت دی.
(لیوتوسکالیا)

عقل له عاطفې پرته خطرناک دی او عاطفه بې له عقله د اعتماد وړ نه ده، پوره انسان هغه دی چې هم عقل او هم عاطفه ولري.
(وېلیم تن)

ښادي وخت او ځای نه غواړي، کافي ده چې زړه یې وغواړي.
(مارسل پروست)

ketabton.com - The Digital Library

يا صحيح خبرې او يا عاقلانه سکوت وکړئ.
(جورج هربرت)

لوی انسان هغه دی، چې کوچنی فکر ونه لري.
(محمد حافظي)

نېکمرغه هغه دي، چې کړنې يې په سخاوت او ويل يې رښتيا وي.
(ابو علی سينا)

حقيقت تريخ کښت دی، خو ثمره يې خوږه ده.
(ګاندي)

هر لوی اقدام په پيل کې ناشونې برېښي.
(کارلايل)

خپله راتلونکې مو په خپلو افکارو وتاکئ.
(کارايل)

انسان يواځې د نيکۍ لپاره پيدا شوی.
(تولستوي)

خبرې کول اړتيا ده، خو غوږ نيول هنر.
(ګوېټه)

هوښياران په عمل ژوند کوي، نه د فکر په عمل.
(کارلوس کاستاندا)

تاريخ خپله لومړۍ پاڼه د لويو کسانو په ژوند پيلوي.
(کارايل)

ketabton.com - The Digital Library

نېکمرغي د ايمان ظاهري شکل دی، تر هغه چې ايمان او هيله ونه لرو د يو کار سرته رسول ګران دي.
(هيلن کلار)

د يادولو لپاره کوچني او د سرته رسولو لپاره لوی نشته.
(ويليام وان هورن)

بد هم بدتر لري، خو له دې نه بدتر انتظار دی.
(جيلبر برون)

دا مهمه نه ده چې څومره وخت لرې، بلکې دا مهمه ده چې څنګه يې تېروې.
(لينکلن)

په هېڅ کار کې بيړه نه ده پکار، خو پرته دريو کارونو نه :

لومړی: د ښځې ورتګ خپل خاوند ته.

دويم: د مړي خاورو ته سپارل.

درېيم ميلمه ته ډوډۍ وروړل.
( ... )

د قضا او تقدير په پاڼه کې راغلي، چې لوی خلک بايد د ښځې له مينې او وفا څخه بې برخې وي، ځکه ستر خلک رښتينې مينه او وفا غواړي او ښځې په رښتينې مينې او وفا نه پوهيږي.
(اناتول فرانس)

هغه انسانان څومره ستر دي، چې زړونه په مينه اخلي او څومره احمقان دي هغه کسان، چې زړه د پيسو په بدل پلوري.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

ښځه هغه شی خوښوي چې غواړي يې، مګر نارينه هغه څه خوښوي چې په واک يې وي.
( ... )

هر انتخاب چې کوئ؛ هغه ته وفادار اوسئ.
(باربارا دي انجلس)

نېکمرغي په پيسو پورې اړه نه لري.
(کيم وو چونګ)

زړه او ذهن مو وروزئ، تر څو د ښې شتمنۍ څښتن شئ.
(پرمودا باترا)

د هدف په ټاکنه کې بيړه وکړئ، څومره چې ژر ځان ته هدف ټاکئ په هماغه کچه د وخت د ضايع کېدو مخه نيول کېږي.
(مردولا اګروال)

زه د برياليتوب په وړاندې څوځلې د ناکاميو ښکار شوی، يم خو ما هڅه کړې او همت مې نه دی بايللی.
(جون ګرېشم)

ناکامي د يوه ګوانښ او نيمګرتيا په توګه ومنئ، خو درس ترې واخلئ او هېڅکله ترې مه ډارېږئ.
(مردولا اګروال)

تر ټولو ښه ناصح هغه دی چې اصلاح له ځانه پيل کړي.
(جورج برنارد شاو)

ketabton.com - The Digital Library

طبيعي پېښې د انسان روحيات قوي کوي.
(گوېته)

ځواني يو بند صندوق دی، له داخل نه يې يو سپين ږيری خبر دی چې څه
شی پکې دي.
(دوکلوس)

مينه خپله له اوښکو سره مينه کوي.
( ... )

د پوهې لومړی دفتر صداقت دی.
(تامس جفرسن)

انسان د نېکمرغۍ لپاره پيدا شوی، خو نېکمرغي د ګټور کار په کولو
سره منځته راځي.
(ساموېل سمايلز)

خپله داسې اوسه چې وکولای شې بل ته ووايې چې زما تګلاره خپله کړه.
(کانت)

نن له لاسه مه ورکوه، بلکې له نن څخه استفاده وکړئ.
(ډيل کارنگی)

ښه مور د طبيعت شهکار دی.
(گرتري)

د ځمکې پر سر کور موقتي او تر ځمکې لاندې کور(قبر) دايمي دی.
(ساموېل ادمز)

ketabton.com - The Digital Library

پیسې په ټوله نړۍ کې یوه ویروسي ناروغي ده، هېڅوک نه شي کولای چې له دې شره ځان خلاص کړي.
(جورج اپنس)

بریالیتوب یواځې هغه دی، چې ژوند په خپل زړه تېر کړئ.
(کریستوفر مورلي)

کارونو ته مو وخت تقسیم کړئ، ترڅو کار مو ځمکې ته پاتې نه شي.
(بطلیموس)

چې څنګه یې همداسې اوسه.
(نیچه)

ښځه ټول شر دی، حتی د مخ ښکلا او سحرا ته کتل یې هم.
( ... )

ویل کیږي چا چې ځان وپېژانده، ټول خلک یې وپېژندل، خو زه وایم چا چې له خلکو سره مینه وکړه، ځان یې پېژنده.
(خلیل جبران)

شتمني د مینې په څېر ده، که چا ورباندې بخیلي وکړه مړه کیږي، خو ښښونکی یې ژوندی پاتې کیږي.
(خلیل جبران)

ښځه ټول خیر دی، ځکه هغه یوه مور ده.
( ... )

د هغه چا سره مینه وکړئ چې ستاسو د مینې تږی وي، نه ستا د عشق ځکه چې د عشق تږی یو ورځ ضرور مړیږي.
(ګاندي)

ketabton.com - The Digital Library

هېڅکله هم ددې جملې د ویلو فرصت له لاسه مه ورکوئ:(تا سره مینه لرم).
(بروان)

کولی شي چې د حقیقت سره مینه ونه لرئ؛ خو نه شئ کولی چې ترې انکار وکړئ.
( روسو)

ښځه یواځې مخلوق دی چې هم دې خندولای شي او هم دې ژړولای شي.
( ... )

اراده د ایمان یو عامل دی.
(پاسکال)

هغه څوک چې پر ځان باور لري، د نورو ستایلو ته اړتیا نه لري.
(ګوستاو لوبون)

خدای«ج» مینه تاسو ته ډالۍ نه ده درکړې چې په زړونو کې یې وساتئ، مینه چې څرګنده نه شي، هغه مینه نه ده.
(ویلیام شکسپیر)

په کار کې تېروتنه، تېروتنه نه ده، بلکې عبرت دی.
(ان ویلسن سکف)

له خلکو لرې ژوند وکړئ، چې څوک په تاسو ظلم ونه کړي او مه نور پرېږده چې په چا ظلم وکړي.
(ابو العلا معری)

له مینې نفرت کوم، ځکه یو ځل مین شوم مور مې هېره کړې وه.

(مارک تواین)

ketabton.com - The Digital Library

مینه باید نېکمرغي راولي نه ناروغي.
(ناپلیون بناپارت)

مینه لوړه مرتبه ده، چې هر څوک یې غوښتونکی دی.
(افلاطون)

هغه سترګې چې مینه تل د اوښکو غسل ورکوي، هغه تل پاکې او ښایسته ښکاري.
( ... )

ولاړې اوبه شئ چې د ستورو عکسونه په خپل ځان کې ویني.
( ... )

ډېر خلک دعا نه کوي؛ بلکې غوښتنه کوي.
(برنارد شاو)

ژوند یعنې دایمي پلټنه.
(لامارتین)

طبیعت د خدای«ج» هنر دی.
(دانته)

د نورو د نېکمرغۍ لپاره د هغوی له هیلو خبر شئ.
(اپیکور)

مین یعنې خپله نېکمرغي د بل له نېکمرغي سره شریکول.
(نن لوبریست)

که څوک تل مینه وکړي او خوند ترې واخلي، شاید ځوان پاتې شي.
(پابلو کازاف)

ketabton.com - The Digital Library

زړور اوسئ چې له حقیقت سره مخ شئ.

(ستون)

هغه څه چې په نړۍ کې د انسان لپاره ډېر مهم دي، هغه په راستۍ د خپلې دندنې سرته رسول دي.
(ژان ژاک روسو)

د کار مهمه برخه د هغه پیل دی.
(افلاطون)

د حقیقت قبلول د حقیقت له بیانولو ګران دي.
(هیچکاک)

یوه مور له سلو استادانو غوره ده.
(جورج هربرت)

څوک چې ریښتنې خبرې نه کوي، هغه پټ شیطانان دي.
(معمر القذافی)

علم تر ټولو قوي وسله ده، تاسو کولای شئددې وسلې په واسطه په نړۍ کې بدلون راولي.
(نېلسن منډیلا)

د زده کړو هدف د علم پرمختګ او د حقیقت خپرېدل دي.
(جان ایف کېنیډی)

د نورو لارښونه زما د بریالتوب عوامل دي.
(هاروي سنګ)

ketabton.com - The Digital Library

یوازېني خلک چې د خپلو خدمتونو په بدل کې د مننې او کور وداني تمه نه لري، هغه مور او پلار دي.
(ماکسیم ګورکي)

که غواړئ چې د انسان شخصیت او کرکټر وازمایئ، نو صلاحیت او امتیاز ورکړئ.
( ابراهام لینکلن)

سیاست یعني له هرچا سره د هغه په ژبه غږېدل او د هغوی پاملرنه او زړه ترلاسه کول.
(بسمارک)

ناپوه مه وژنئ، ناپوهي یې ووژنئ.
(سید جمال الدین افغان)

نېک کار کول په پیل کې ستونزمن، خو په پای کې اسان او د خوښۍ وړ ګرځي، مګر بد کار په پیل کې اسان، خو وروسته خواشینوونکی وي.
(فرانکلین)

د ویاړ ژوند که یوه ورځ وي، خو د بې نومۍ له سلو کلونو ژونده غوره دی

(ناپلیون)

مهمه نه ده چې ښکلی و اوسې، ښکلا دا ده چې مهم اوسې حتی که د یوه کس لپاره هم وې.
(نېلسن منډیلا)

ketabton.com - The Digital Library

په خپلو شکونو باور مه کوه او په خپلو باورونو شک مه کوه.
(نېلسن منډيلا)

د نړۍ په دوو قومونو اعتبار مه کوئ، يهود او بني اسراييل.
(هيټلر)

سياست د نورو په کارونو کې لاس وهل او خپل کار له نورو پټولو ته وايي.
(برتراند راسل)

هغه دولت چې فکري قوت ونه لري، مجبور دی چې ظالم و اوسي.
(برتراند راسل)

اخلاقي اصول هغه څه نه دي چې له بهر څخه وتپل شي، بلکې يوه باطني ځلا او زموږ په زړونو کې د قضاوت دستګاه ده.
(جان لاک)

ددې پرځای چې يو بل ته دليلونه وړاندې کړو، ښه به دا وي، چې په ګډه دعقل زده کړې ته لستوڼي را بډ وهو.
(جان لاک)

په ازموينه کې بريا پرته له پرله پسې تمرين څخه لاسته نه راځي.
(ډکارت)

له حده ډېره مينه، سل په سلو کې ګواښ دی.
( ... )

ښځه هېڅ وخت نه وايي، چې مينه درسره لرم، خو که درته يې وويل چې له ما سره مينه لرې، نو پوه شه چې د هغه په زړه کې دې ځای نيولی

ketabton.com - The Digital Library

دی.
( ... )

هغه خلک چې ډېرې وعدې نه کوي؛ هغه په وعدو ولاړ خلک دي.
(ژان ژاک رسو)

افراط د ژوند بار درنوي.
(ژان ژاک رسو)

له زیږېدنې او مړینې څخه تېښته نه شي کېدای، پکار ده چې ددغو دواړو ترمنځ له پرتې فاصلې څخه خوند او پند واخلو.
(سانتایانا)

ښځه هغه ژوی دی چې اوږده ویښته لري او لنډ فکر.
(شوپنهاور)

د بخت په زور حکومت ته رسېدل اسان دي، خو د واکمنۍ ټینګول ګران دي.
(مکیاویلي)

ثروت یوازېنی مذهب دی، چې ټول یې پیروان دي.
(والټر)

که تېر ژوند ته غور وکړو، نو معلومه به شي چې څومره ښکلي وختونه مو له لاسه ورکړي دي.
(هربرټ سپنسر)

ketabton.com - The Digital Library

بیره په هر کار کې ناسمه ده، خو د یوه شي یا د یوه چا په اړه قضاوت کې بېخي ناسمه ده.
(هګل)

اړتیا نشته چې هر سړی دې لوی سړی وي، د انسان لپاره یوازې انسانیت بسنه کوي.
(البرټ کامو)

د انسان عظمت په دې کې دی، چې پوهېږي مړ کېږي.
(البرټ کامو)

علم له خطا خالي دی، خو عالمان تل په خطا کې وي.
(اناتول فرانس)

که غواړئ چې په نړی حاکم شئ، نو عقل پر ځان حاکم کړئ.
(تولستوي)

دنیا ته ټول ربنتیني راځي، خو ټول له دنیا څخه ربنتیني نه ځي.
(توماش الیوت)

نالوستی خلک د صورت سترګې لري، خو د بصیرت سترګې نه لري.
(توماس مان)

څلور څیزه مه ماتوئ: باور، زړه، وعده او اړیکه ځکه ماتېدل یې غږ نه لري، خو ژور درد لري.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

که یو ملت تر خپلې ازادۍ بل څه ښه او مهم وګڼي، نو هرڅه به له لاسه ورکړي.
(سامرسټ موام)

ای مغروره انسانه! ته تر اسمان لاندې د لږ قدرت د پیدا کولو په خاطر داسې څه کوې چې پریښتې ژړوې.
( شکسپیر)

یوه بې معنا او ناممکنه هیله له لاسه ورکول، پخپله یو ستر بریالیتوب او پرمختګ دی.
(شکسپیر)

کله چې قومونه له فکر کولو څخه محروم شي، تباه کیږي.
(علامه اقبال)

جدیت هدف را لنډوي.
(شیلر)

د بشر ترټولو ستره بدبختي دا ده، چې نېکمرغي په ډېرو ستونزو لاسته راوړي او ډېر ژر یې له لاسه ورکوي.
(شیلر)

ددې لپاره چې خپل انسانیت وپېژنو، لومړی باید خپل حیوانیت وپېژنو.
(کافکا)

احتیاط حتی په احتیاط کولو کې هم لازم دی.
(لامارتین)

ketabton.com - The Digital Library

تر ټولو نږدې شی مرګ دی او تر ټولو لرې، هیلې او امیدونه دي.
(لامارتین)

مالګه غذا خوندوره کوي او شوخي ژوند، خو په دې شرط چې هېڅ یوه له اندازې زیات نه شي.
(مارک ټواین)

څوک چې د عبرت اخیستنې قدرت او قابلیت ونه لري، هېڅکله به پرمختګ ونه کړي.
(مارک ټواین)

کامیابي دوه وزرونه لري، یو اختیار او بل احتیاط.
(ناظم حکمت)

یو انسان د مینتوب لپاره یوې شېبې ته، خو د هغو د هېرېدو لپاره یوه عمر ته اړتیا لري.
(....)

فقر او بې وزلي نر جنایت او ښځه فحشا ته هڅوي.
(ویکتور هوګو)

بدبخته هغه کسان دي، چې په خپلو وړتیاوو باور نه لري.
(ویکتور هوګو)

هغه خلک چې ځان نه شي اداره کولی، نورو ته لاس په نامه ولاړ دي.
(ویکتور هوګو)

په هغه چا پسې مه ژاړه، چې ستا د اوښکو په ارزښت نه پوهېږي.
( ... )

ketabton.com - The Digital Library

حقيقي مينه په دوو زړونو لوبې کوي.
( ... )

جالبه ده! څوک چې مېرانه نه لري، ډېری وخت د مېړانې لاپې وهي.
(البرټ انيشټين)

احتياط وکړه او سالم پاتې شه، پرېږده چې نور دې ډارن وبولي.
(الفرد نوبل)

قلم بايد د کمزورو خلکو په خدمت کې وي، زورور نورې وسلې لري.
(الفرد نوبل)

مورخ د ماضي او تېر وخت لپاره ژوند کوي، شاعر د اوس او فيلسوف د راتلونکې لپاره.
(امپير)

هوښ او فکر په کارولو باندې سمېږي، په نه کارولو سره کم او ړندېږي.
(جيمز واټ)

هېڅوک هغې آرامۍ ته نه رسي چې دوی يې غواړي، ځکه چې د ژوند مفهوم دايمي منډه او هڅه ده.
(ډاروين)

وخت ضايع کول د هغو خلکو طريقه او سليقه ده چې د ژوند لپاره مصلحت او تدبير نه لري.
(فارادي)

ماته ووايه چې څه هيله لرې، ترڅو وپوهېږم چې څنګه سړی يې.
(فرويد)

ketabton.com - The Digital Library

هیله او هڅه لازم او ملزوم دي، ځکه له هڅې او کوښښ څخه پرته ټولې هیلې په ناهیلۍ بدلیږي.
(فروید)

ټول خواږه خوښوي، مګر ټول له یوبل سره ترخه کوي.
(ګالیله)

شک د تصمیم دښمن دی.
(لاوازیه)

که هر انسان په خپلو کارونو قضاوت کولای، نو اصلاً به قاضیانو ته اړتیا نه وه.
(نیوټن)

څومره چې کولی شئ د خپل اوس لپاره منډې وکړئ، ځکه د تېرو وختونو لارې نورې بندې شوې دي او د راتلونکو وختونو لارې تر اوسه جوړې نه دي.
(نیوټن)

ځینې خلک ښکلي دي، په دې نه چې څنګه ښکاري یا دوي څه وايي، بلکې په دې چې دوي یو څه دي.
( مارکس پوټو)

که چېرې مور سوله نه لرو، دا به مو هېر کړي وي، چې مور له یو بل سره تړون لرو.
(مادر تېریزا)

ketabton.com - The Digital Library

د مور مینه، ښکلا، جرئت، وفا، آرام ...هېڅ یوه ژبه نه شي بیانولي.
( ... )

په ډېرو وضاحتونو وخت له لاسه مه ورکوئ، خلک یواځې هغه څه اوري چې اورېدل یې غواړي.
(پاولوکویلو)

د پرمختګ لپار تر ټولو غوره لار د خپلواکۍ لار ده.
(جون اېف)

ما چې یوه ورځ کتاب ولوست، ټول ژوند مې بدل شو.
(اورهان پاموک)

فکر مو بدل کړئ، ترڅو په نړۍ کې بدلون راولئ.
(نورمن پیلې)

که کولای شې د خلکو سره مرسته وکړه، که یې نه شې کولای، لږ تر لږه خو زیان مه ورسوه.
(دلای لاما)

کتابونه د روح هنداري دي.
(ویرجینیا وولف)

د انسان لومړۍ دنده دا ده چې د ځان په اړه فکر وکړئ.
(جوسي مارټي)

یوازې مړی دی، چې د جنګ پای یې ولید.
(پلاټو)

ketabton.com - The Digital Library

ځوک چې د رښتیا په ارزښت نه پوهېږي هغوی ته رښتیا مه وایئ.
(مارک ټوېن)

زما په ملګرو کې تر ټولو ښه ملګرې هنداره ده، چې ژاړم راسره ژاړي
او چې خاندم راسره خاندي.
(چارلي چا پلین)

ایمانداري یو قیمتي ډالۍ ده، له ناوړو خلکو یې تمه مه کوئ.
(وارین بفیټ)

هېڅکله شاته مه ګوره، له هیلو سره مو مخ پر وړاندې ځئ.
( ... )

ژوند یو ځل وي، که یې په سمه توګه تېر کړو دا یو ځل مو بس دی.
(مي وېسټ)

یو ښه کتاب د سلو ملګرو ارزښت لري، خو یو ښه ملګری بیا د یوه
کتابتون هومره ارزښت لري.
( ... )

چېرته چې باور نه وي هلته خبرې بېځایه وي.
(فرانز کافکا)

بدلون د ژوند قانون دی، ځوک چې یوازې اوسنی وخت ګوري،
راتلونکی له لاسه ورکوي.
(جون ایف)

ketabton.com - The Digital Library

د نړۍ ستونزه دا ده چې هوښیاران یې په شک کې ډوب دي او کم عقلان یې باوري دي.
(چارلز بکاوسکي)

هغه خلک چې ګوډ ګوډ روان وي، په هغو کسانو منلډې وهي چې په لاره سم ځي.
(چارلي چاپلین)

دا یو ناوړه حقیقت دی، چې موږ تل د جنګ په تکرار سوله راوستل غواړو.
(جون اېف)

ښه ملګری هغه دی، چې په هر څه دې خبر وي، خو بیا هم درسره مینه کوي.
(البرټ هبرډ)

د ژوند د ځینو شېبو ارزښت د ټول ژوند په اندازه وي.
(ال پاچینو)

هېڅ شی ښکلی کېدای نه شي، چې رښتینی نه وي.
(جوهن رسکین)

کوم شیان چې لیدلی شې، رښتیني دي.
(پابلو پیکاسو)

ښه کتاب هغه دی، چې درنه وپوښتي مخکې د څه زده کړي؟.
(جورج اروېل)

ketabton.com - The Digital Library

بې له زده کړې ازادي تل په وېره کې وي او له ازادۍ پرته زده کړې بې مقصده وي.
(جون اېف)

ايمانداري د پوهې په کتاب کې لومړنی فصل دی.
(جېفرسن)

نه غواړم چې بيا، بيا برياﻟﯽ شم غواړم چې د برياليتوب ترڅنګ نورې لارې هم ووينم.
(والټ ډيزنې)

که څوک غواړئ، چې په نړۍ کې تغيرات راولئ د خپل شخصيت نه يې پيل کړئ.
(هيوس)

رښتيني خندا به دې ددې جوګه کړي چې د خپل درد سره لوبې وکړې.
(چارلي چاپلين)

چا چې تېروتنه نه ده کړې، هېڅ نوښت يې نه دی کړی.
(البرټ اينشټين)

څند د وخت غل دی.
(ينګ)

د سولې لپاره جنګ داسې دی، لکه د عدالت لپاره جرم سرته رسول.
(مهاتما ګاندي)

ketabton.com - The Digital Library

زه هېڅ چاته بې ځوابه پاتې شوی نه یم پرته له هغه نه چې رانه یې پوښتي دي، ته څوک یې؟.
(خلیل جبران)

مینه ړنده نه ده؛ بلکې بخیلي ړنده ده.
(لارېنس ډورېل)

په ژوند کې دري شیان تلپاتې وي، بدلون، خوښه او اصول.
(ستېفن کووي)

هېڅ کله د هغه څه په وړاندې سوالگر مه جوړېږئ، چې د گټلو وسه یې لرئ.
(میگېل سروېنتیز)

که له تېر سره خدای په امانې نه شي کولای، نو راتلونکې ته هرکلی هم نشې ویلی.
(ټوني کینگ)

باور د زړه د ننه علم دی.
(خلیل جبران)

پای

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*